د لوړو زده کـــــړو وزارت

وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه

شـــرعـــياتو پوهـــنځی

د ستراتیژیک پلان کمېټه

# د شرعياتو پوهنځي ستراتيژيک پلان

کال: ........................................................۱۴۰۳هـ ل

بسم الله الرحمن الرحيم

# نوملړ

عنوانونه مخونه


**د پوهنځي د رئيس خبرې** ........ 1

**مفهومونه** ........ 3

**د ستراتيژيکي کړنلارې د چارچوب نمونه** ........ 5

**اول فصل** ........ 6

**د شرعياتو پوهنځي پيژندنه** ........ 6

د شرعياتو پوهنځی تاريخچه او پيژندنه ........ 6

دقيقې شمېرې: ........ 10

د استادانو په باره کې مفصل معلومات ........ 11

**دوهم فصل** ........ 13

**ستراتيژيکي موخې:** ........ 13

الف: عمومي موخې ........ 13

ب: خاص موخې ........ 13

**د پوهنځي په سطحه د ستراتيژيک پلان لمړيتوبونه** ........ 14

۲.رهبري او مديريت: ........ 14

۳.د فساد پروړاندې مبارزه: ........ 14

اداري بيرو کراسي: ........ 15

تواميتونه ( تفاهم ليکونه) : ........ 15

د ټولنې په پرمختګ کې د پوهنځي ونډه: ........ 15

نظارت او ارزونه ........ 16

علمي پروګرامونه ........ 16

د علمي کادرونو د شمېر زياتوالی ........ 16

د تحصيلي نصاب انکشاف او بيا کتنه ........ 17

د درسي موادو نوي (آپډيټ) کول ........ 17

د کيفيت لوړونې برنامې تطبيق ........ 18

د ظرفيت لوړولو پروګرامونه ........ 18

علمي ارزونې ........ 18

علمي څيړنې ........ 18

علمي فعاليتونه ........ 19

د ښوونکو ،کارمندانواو زده کونکو لپاره د برخې اخيستل ........ 19

د معلوماتي ټيکنالوژۍ لاسرسی....20
د شرعیاتو پوهنځي ویب سایت ....20
لوړو زده کړو او د زده کوونکو ملاتړ ته لاسرسی ....20
د پوهنځي د اصولو او ارزښتونو سره د نویو محصلینو آشنا کول....21
الکترونیکي کتابخانه ....21
د لنډ مهاله روزنیزو پروګرامونو جوړول....21
زیربناوې ....21
**دریم فصل**....22
**د چاپیریالي عواملو تحلیل** ....22
**د ګټه اخیستونکو توقعات او هیلې** ....23
**تهاجمي ستر اتيژياني:**....28
محافظه کاره ستراتیژي: ....28
رقابتي تکلاري: ....28
د فاعي ستراتېژي: ....28
د پرتله کولو پایلي:....29
**څلورم فصل**....30
**د ممکنه ستر اتیژیو انتخاب** ....30
٢ ....30
۴- الکترونیکي زده کړه: ....30
۵- د علومو څخه کار اخیستنه:....30
۶.د ټولنې په پرمختګ کې رول: ....31
۷. د مالي او اداري څانګو وده: ....31
۸ - د شراکت جوړول:....31
**بیروني وضعیت تجزیه او تحلیل**....33
**جدول 4 : د سوات ماتریکسSWOT پواسطه تحلیل او تجزیه**....35
**شرعیاتو پوهنځی ستر اتیژیک موقیعت** ....37
**د شرعیات پوهنځی ستر اتیژیک حالت** ....37
**مالي، اداري او علمي خپلواکي** ....39
**د پوهنتون په سطحه د بیلابیلو مسلکونو د بورډونو ایجادول** ....41
**د شرعیاتو پوهنځی د ستر اتیژیک اولویت**....41
▪ د کادري غړو رشد او پراختیا ....41

- محصلینوته د خداماتو زیاتوالی ........ 42
- تدریسي ساختمان........ 42

**ستر اتیژیک مقاصد او د پوهنځی موخې سره له زماني ویش او اړینو اجراآتو** ........ 43

**د شرعیات پوهنځي پنځه کلن مالي پلان (۱۴۰۳-۱۴۰۷)** ........ 45

**پنځم فصل** ........ 46

**د لنډ مهال اهدافو ټاکل** ........ 46

**داوږد مهاله اهدافو ټاکل** ........ 46

**د ستر اتیژي ارزونه او د ستر اتیژیک پلان د تطبیق پایلې** ........ 48

د ستراتیژي ارزونه ........ 48

**دپوهنځی د ستر اتیژیک پلان تأئید اوتصویب** ........ 48

د ستراتیژیک پلان د کمیټي پریکړه ........ 48

د پوهنځی د علمي شورای پریکړه ........ 48

## د پوهنځي د رئيس خبرې

**الحمد لله وحده، والصلوة والسلام على من لانبی بعده ولعنت الله على من ادعی النبوة بعده**

**اما بعد:**

د پروردګار د لوی نعمت شاکرین یو چې د یو اسلامي نظام اوشرعي عدالت په فضاء کې د افغانستان د اسلامی امارت زعیم عالیقدرمحترم امیرالمؤمینین شیخ صاحب هبة الله حفظه الله ورعاه تررهبری اوقیادت، دعالي تحصیلاتو وزیر جلالت مآب جناب محترم شیخ صاحب ندآمحمد ندیم ترسرپرستي اومدیریت لاندې او د وردګ د لوړو زده کړومؤسسي رئیس جناب محترم شیخ صاحب صفت الله حقاني د هدایت اولارښوونې موافق د وردګ لوړو زده کړو مؤسسې د شرعیاتو پوهنځي استراتیژیک پلان تعقیب اوترتیب کوو او راتلونکي پنځه کلنه کاري ساحه اوتګلاره د اسلامي اصولو او قوانینو په رڼا کی ترتیبوو.

له شک پرته چې هغه معیاري لوړې زده کړې چې د ټولنې ضرورتونو ته ځواب ویونکې وي او قدم په قدم معاصر پرمختګ ولري، د لوړو زده کړو وزارت یو له مهمو اولویتونو څخه دي.

د شرعیاتو پوهنځی هم د دې په لټه کې ده، چې د شرعي علومو په برخه کې د ټولنې د پرمختګ لپاره خپله وجیبه اداء کړي، ترڅو د یاد اولویت د تر لاسه کولو په برخه کې یې برخه اخیستې وي او خپلې کړنې یې په ښه توګه ترسره کړې وي او خپلو معینو اهدافو ته ورسیږي.

ښکاره خبره ده چې اهدافو ته رسیدل اوږد مهاله کړنلارو کارونې ته اړتیا لري، چې ستراتیژیک پلان معینو اهدافو ته د رسیدل مونږ ته ښایی او د کړنلارو د لارښود په توګه کار ترې اخیستل کیږي. د وردګ لوړو زده کړو مؤسسې اړوند شرعیاتو پوهنځی د مؤثرو او مثمرو کړنو او اهدافو ته رسیدلو لپاره ستراتیژیک پلان تدوین کړی او خپل فعالیتونه د هغې محتواء ته په کتو سره مخکې وړي.

د شرعیاتو پوهنځی ستراتیژیک پلان د وردګ لوړو زده کړو مؤسسې د ستراتیژیک پلان سره په همغږۍ باندې ترتیب شوی دی او دغه پلان امکاناتو، فرصتونو او مشکلاتو ته په کتو سره د کړنلارو د تنظیم او مشترکو اهدافو ته د رسیدو لپاره تدوین شوی دی.

د شرعیاتو پوهنځی د وردګ لوړو زده کړو مؤسسې په چوکاټ کې د اسلامي کارپوهانو، قاضیانو او عدلي کدرونو د تربیت په موخه په ۱۴۰۱ هـ ش کال کې تأسیس اوایجاد شوې ده. دغه ستراتیژیک پلان د وردګ لوړو زده کړو مؤسسې اړوند شرعیاتو پوهنځی آینده پنځو کلونو انکشافي کړنې په علمي، تحقیقي، ښستونو، اداري او محصلانو برخه کې د (۱۴۰۳هـ ش – ۱۴۰۷) کلونو تر منځ امکاناتو او یاد پوهنځی ته د ذکر شوې مؤسسې له لوري، خاصې بودیجې ته په کتو سره په بر کې نیسي.

شرعیاتو پوهنځی په پام کې لري چې خپلو کړنو ته د ستراتیژیک پلان محتوا ته په کتو سره ښه والی او انکشاف ورکړي.

په آخر کې د شرعیاتو پوهنځی د ستراتیژیک پلان کمېټې له غړو څخه مننه کوم چې په خپلو نه ستړی کیدونکو هڅو سره یې دغه پلان تدوین کړ او په دې برخه کې یې تکیلف او مشقت په ځان تیر کړ، له درنو استادانو، اداري کارکوونکو محصلینو او هغه چا څخه چې د دې پلان په جوړېدو کې یې نظرونه راسره شریک کړي دي، د زړه له کومې مننه کوم، د یادونې وړ ده چې د وردگ لوړو زده کړو مؤسسې اړوند شرعیاتو پوهنځی تعهد لري چې د دې ستراتیژیک پلان په عملي کولو او تطبیق کې به خپل نهایي کوشش کوي؛ ترڅو د ټولنې د پرمختګ او غوړېدو په برخه کې د خدمت جوګه شي.

**په درنښت.**

**شیخ مولوي عبدالباري (رحماني)**

**(د شرعیاتو پوهنځي رئیس)**

## مفهومونه

په دې برخه کې مهم او تر ستراتيژيک پلان پورې تړلي مفهومونه په خلاصه توګه ذکر کيږي:

**کړنلاره:** کړنلاره د هغه هوډونو مجموعې ته وايي چې په علمي توګه جوړ شوي وي، چې هدف يا اهدافو ته د رسيدو لپاره نيول کيږي.

**ستراتيژي:** ستراتيژي هغه طرحه ده، چې د فکر او نظر پر بنسټ د پوهنتون اهدافو ته د رسيدنې لپاره تدوينيږي.

**ستراتيژيکه کړنلاره:** سراتيژيکه کړنلاره د طرحه شوو مراحلو او پوهنتون د کلي اهدافو له خلاصې څخه عبارت ده، چې څانګو او ديپارتمنتونو ته په نسبت سره په ټوليزه توګه تدوينيږي.

**تدوين:** د ستراتيژيکې کړنلارې د جوړولو يوه مرحله ده، چې په نظرياتو، ارزښتونو، اهدافو، د محيطي عواملو تحليل، ستراتيژيک حالت تعين، ممکنو ستراتيژيو انتخاب او ستراتيژيو د اولويت تعين باندې مشتمله ده.

**اجراء:** د ستراتيژيکې کړنلارې دوهمه مرحله د ستراتيژي اجراء ده، چې د ستراتيژيکو اولويتونو په تعين، د لنډ مهالو کړنلارو د اهدافو تعيين، د بوديجې تدوين، د پوهنتونونو د رهبری لپاره د طريقې انتخاب او منابعو په تخصيص باندې مشتمله ده.

**ارزونه:** دريمه مرحله، ستراتيژي ارزونه ده، ارزونه يوه داسې کړنلاره ده، چې د پوهنتون له خوا د لوړو زده کړو وزارت په معيارونو او پاليسيو د تطبيق څارنه کوي.

**ليدلوری:** ليدلوری يا د آرمان ښوونه د پوهنتونونو د آينده کارونو تګلاره او خط سير ښکاره کوي.

**مأموريت:** مأموريت، د پوهنتون د وجود مقصد او دليل بيانوي.

**هدف:** له هغې نقطې عبارت دی، چې ټول کوششونه هغې ته د رسيدنې لپاره وي.

**ارزښتونه:** د پوهنتون اعتقادي او اساسي اصولو ته ويل کيږي، ارزښتونه د پوهنتون بايد او نبايد دی، چې آرمانونه او مأموريتونه د هغو په اساس تدوينيږي.

**د داخلي عواملو ماتريکس تحليل: (IFEM/Internal Factors Evaluation matrix):** داخلي عوامل هغه ټولګې دي چې د پوهنتون تر د ننه پورې اړوند دي او په دوه برخو قوتونو او ضعفونو ويشل شوې دي، همدارنګه د داخلي عواملو د ماتريکس تحليل په واسطه تحليل او تجزيه کيږي.

**د خارجي عواملو ماتريکس تحليل (IFEM/External Factors Evaluation matrix):** د پوهنتون د لوی محيط تجزيه او تحليل، د هغو فرصتونو او تهديدونو کتل او تفسيرول دي، چې د پوهنتون لپاره د پوهنتون د لوی محيط د عواملو د تحليل څخه را منځته شوي دي.

**داخلي او خارجي عوامل (IFEM/ Internal and External Factors Evaluation matrix):** د داخلي او خارجي عواملو د تطبيق له مناسبو وسيلو يا د مقايسوي مطالعې څخه عبارت دی، چې د پوهنتونونو د ستراتيژيکې حالت د تعين زمينه يې برابره کړېده.

**قوتونه، ضعفونه، فرصتونه او تهديدونه:** د استراتيژي د تدوين له وسايلو څخه شمېرل کيږي، چې د دې تحليل څخه په استفادې سره د دې امکان پيدا کيږي چې لومړی د داخلي او خارجي محيطونو تحليل او تجزيه وکړی، دوهم استراتيژيک تصميمونه ونيسي، چې د ادارې فرصتونه او قووتونه سره متوازن کړي.

**بريديزه ستراتيژي (OS):** د دې ستراتيژۍ په قالب کې، اداره د قوت د داخلي نقاطو څخه په استفادې سره کوشش کوي چې له خارجي فرصوتونو څخه ګټه پورته کړي.


**د ستراتيژيکې کړنلارې چارچوب :**د ستراتيژيکې کړنلارې چارچوب په دريو مرحلو کې مطرح کيږي:

۱- **د تدوين مرحله:** چې د پوهنځي په مختصره پيژندنه، مخکينۍ کړنې او ستراتيژۍ، د ليدلوري مشخص کول، مأموريت، ارزښتونو، ستراتيژيکو اهدافو، د محيطي عواملو تحليل او د لوړو زده کړو وزارت په اولويتونو باندې مشتمله ده.

**۲- د اجراء مرحله:** چې د ممکنو ستراتيژيو په انتخاب، د ستراتيژيکو اولويتونو مشخص کولو، لنډ مهاله اهدافو تعين، د عملي کولو کړنلارې، د بوديجې تدوين، پوهنځي جوړيدنې او منابعو په تخصيص باندې مشتمله ده.

**۳- د ارزونې مرحله:** ستراتيژي ارزونه يوه داسې کړنلاره ده، چې د پوهنتون له خوا د لوړو زده کړو وزارت په معيارونو او پاليسيو د تطبيق څارنه کوي.

## د ستراتیژیکې کړنلارې د چارچوب نمونه



## اول فصل

### د شرعیاتو پوهنځي پیژندنه

### د شرعیاتو پوهنځی تاریخچه او پیژندنه

د شرعیاتو پوهنځی په ۱۴۰۱هـ ش کال د لوړو زده کړو وزارت له خوا د وردګ پوهنتون په وړاندیز سره منظور شوه او د یاد پوهنتون په داخل کې یې په خپلو علمي او اکاډمیکو فعالیتونه پیل وکړ. یاد پوهنځی که له یوې خوا نوی وو له بلې خوا یې استادان نه یوازې نوي ، بلکې لږ هم وو. د دې تر څنګ امکانات یې ډیر لږ او د اداري او علمي فعالیتونو سره د نوو استادانو نابلدتیا هغه ستونزې وې چې د پوهنځی مسئولین ورسره مخامخ وو. خو بیا هم د دې پوهنځی د ځوانو استادانو قوي عزم او د شرعیاتو په ساحه کې د هیواد د ځوان نسل د روزنې سره قوي تعهد هغه څه وو چې دغو ټولو ستونزو ته یې اوږه ورکړه او په پوره باور او قوي اراده یې د اداري او اکاډ میکو فعالیتونو د ترسره کولو لپاره شپه او ورځ یوه کړه او د پوهنتون د رهبرۍ په ځانګړې پاملرنه او همکارۍ یې د پوهنځی کالبوت ته ساه ورکړه، نن یې دا دی د دې پوهنتون د سابقه لرونکی پوهنځیو په کتار کې ځان ثابت کړی او په پوره امادګی فعالیت لري. اوسمهال د شرعیاتو پوهنځی دوې ځانګې لري: یوه فقه قانون ځانګه او بله یې د اسلامي تعلیماتو ځانګه ده، د ځانګو له پاره آ مرین ټاکل شوي او په نورمال ډول خپلې چارې پرمخ وړي د ۱۴۰۱هـ ش کال د کانکور په ازموینه کې ۴۰ تنه محصلان د هیواد له ۷ ولایاتو څخه د کانکور آزموینې له لارې یاد پوهنځی ته کامیاب شوي دي. د شرعیاتوپوهنځی ۱۸۵ تنه محصلین لري . یاد پوهنځی د استادانو شمېر اوس مهال (۱۳) تنو ته رسیږي چې د پوهنځی ټولې علمي او اکاډمیکې چارې تنظیموي . د پوهنځی ډیرې ستونزې هوارې شوې دي. د استادانو تعداد زیات شوی او ځانګې پرانیستل شوې دي.

#### د پوهنځي ایجاد

د شرعیاتو پوهنځی په ۱۴۰۱ هـ ش کال کی د علماوو، اسلامي کارپوهانو، قاضیانو، علمي کادرونو او قضایي کارکوونکو د روزنې په موخه د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د تحصیلي ادارې په چوکاټ کې جوړ شو.

#### لرلید:

د شرعیاتو پوهنځی په پام کې لري چې د اسلامي او ملي ارزښتونو پر بنسټ د شرعي او ملي قوانینو په رڼا کې متخصص او وړ کادرونه وروزي، همدا راز د هیواد او سیمې په کچه د یو دیني علمي مرکز په توګه وپیژندل شي.

#### رسالت:

د شرعیاتو پوهنځی د دیني او علمي مرکز په توګه علمي، متخصص او په شرعي علومو سمبال کادرونه ټولنې ته وړاندې کوي، د شریعت د کلي قواعدو څخه د معاصرو فقهي مسائلو تحقیق کوي او اسلامي ارزښتونه تشریح او نشروي.

**موخې:**

- د خپلې ټولنې د ټولو شرعي او ټولنیزو اړتیاوو په نظر کې نیولو سره متدین، په علمي ګاڼه سمبال، وړ او مسلکي کادرونه روزل.
- د تقنین،قضاء او افتاء په برخه کې د یوې قوي،دیني مرجع په توګه ژمن مسلکي کادرونه وړاندې کول.
- د تعلیم او تحصیل اړوند اداراتو لپاره مسلکي ښوونکي او استادان روزل، چې وکولای شي د هیواد راتلونکي بچیان په دیانت، مسلکي پوهه او د هیواد د سوکالۍ او پرمختګ په روحیه سمبال کړي.
- د ټولنې د سالمې رهبرۍ لپاره د متدینو او زیار ایستونکو زعامتونو او قیادتونو وړاندې کول.
- د شرعي مسائلو څېړنو د مراکزو لپاره داسې څېړونکو روزنه چې د ټولنې د اوسمهال اړتیاوې او وړتیاوې په معیاري پوهنیزو طریقو سره تشخیص او حل یې ومومي.
- دیني، فرهنګي او ملي روحیه پیاوړې کولاو د هر ډول تبعیض سره مبارزه کول.


**ارزښتونه:**

- د لوړو زده کړو لوړ کیفیت.
- د ملي یووالي پیاوړتیا او د اسلامي او اخلاقي ارزښتونو او انساني کرامت درناوی.
- علمي ازادي.
- د سالمې ادارې لپاره، موثریت او عدالت پلي کول.
- د معیاري څېړنې او کیفیت لرونکي تدریس وړاندې کول.
- په علمي او تحصیلي چاپېریال کې د هر ډول تبعیض او تعصب مخنیوی.

**۱ـ شمیره جدول: د شرعیاتو پوهنځي د استادانو احصائیه**


| شمیره | دیپارتمنت | علمي رتبه | | | | | | علمي درجه | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ن پوهنیار | پوهنیار | پوهنمل | پوهندوی | پوهنوال | پوهاند | لیسانس | ماستر | دوکتور |
| ۱ | فقه قانون | ۴ | ۱ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۴ | ۱ | ۰ |
| ۲ | اسلامي تعلیمات | ۴ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۴ | ۰ | ۰ |
| ۳ | اسلامي ثقافت | ۴ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۴ | ۰ | ۰ |
| ۴ | د تحصیلي دورې په جریان کې | | | | | | | | ۱ | ۰ |
| **مجموع** | | | | | | | | ۱۳ | | |

- د شرعیاتوپوهنځی (۷,۶۹) سلنه استادان په ماسترۍ کې د هیواد د ننه او بهر په زده کړو بوخت دي او متباقي (۹۲,۳۱)سلنه استادان حضور لري، چې د تدریس تر څنګ، د نورو اداري کارونو مسؤولیت هم په غاړه لري. په لاندې دیاګرام کې ښودل شوي دي.





*۱ شمیره دیاګرام: دشرعیاتو پوهنځی د حضوري او تحصیلي درجې په تفکیک سره د استادانو احصائیه.*

- د شرعیاتوپوهنځی د اکاډمیک تشکیل ورها خوا په خپل جوړښت کې (۸) غیر اکاډمیک خدماتي او اداري بستونه لري چې په دوهمه شماره دیاګرام کې په مکمل ډول سره ښودل شوي دي.




## د شرعیاتو پوهنځي تشکیلاتي چارت




**دقیقي شمېرې:**


| | |
|---|---|
| د محصلینومجموعي شمېر | ۱۰۹ |
| د دیپارتمنتونو مجموعي شمېر | ۲ |
| د پوره ورځې د علمي کارمندانو مجموعي شمېر | ۱۳ |
| د نیمه ورځې د علمي کارمندانو مجموعي شمېر | ۰ |
| د اداري کارمندانو مجموعي شمېر | ۳ |

| | |
|---|---|
| د خدماتي كارمندانو مجموعي شمېر | ۴ |




**د استادانو په باره کې مفصل معلومات**

| | |
|---|---|
| د دكتور استادانو شمېر | ۰ |
| د ماستر استادانو شمېر | ۱ |
| د ماسترى برنامې په جريان کې د استادانو شمېر | ۱ |
| د ليسانس استادانو شمېر | ۱۱ |
| د معاون استادانو شمېر | ۰ |
| **مجموعه** | ۱۳ |


د استادانو د احصایي ګراف
۱۲
۱۰
۸
۶
۴
۲
۰
دکتورا استادانو شمېر
ماستر استادانو شمېر
د ماسترۍ په جریان کې
لیسانس استادانو شمېر
معاون استادانو شمېر
Series 1

## دوهم فصل

### ستر اتیژیکي موخې:

### الف: عمومي موخې

۱.د لوړو شرعي او حقوقي زده کړو د سیستم د طرحې له لارې عدالت ته د لاسرسی زیاتوالی.

۲.د شرعي علومو د پرمختګ لپاره د شرعي علومو په برخه کې د علمي څېړنو زمینه برابرول.

۳.د داسې علمي چاپېریال رامنځته کول چې په هغه کې انتقادي پوښتنې او رغنده نیوکې د منلو وړ وي.

۴.زده کونکو ته د معتدل، مسؤل او انتقادي اتباعو په توګه، د اړین ظرفیت او د دین پر بنسټ د نظریاتو روزنه.

۵.په شرعي او حقوقي برخو کې د علمي څېړنو ترسره کول، تر څو په دې برخه کې له یوې خوا د څېړنې پرمختګ وشي او له بلې خوا د ټولنې نورې دیني او شرعي اړتیاوې پوره شي.

۶.د لوړو زده کړو د فرصتونو د برابرولو، لنډ مهاله کورسونو، متقابلو کتنو او د دوامداره زده کړو د فرهنګ د رامنځته کولو له لارې، د لوړو زده کړو د اکاډمیکو او اداري کارکوونکو روزنه.

۷.د ګډو علمي څېړنو د پلي کولو له لارې له نورو پوهنځیو سره د علمي اړیکو پیاوړتیا، د علمي موضوعاتو او مقالو تبادله کول.

۸.د لا ډیر ښه والي لپاره د نصاب پراختیا.

### ب: خاص موخې

د شرعیاتو پوهنځی ځانګړی ماموریت او اهداف لري، چې د پوهو، تکړه او د خلکو او ټولنې لپاره مسلکي اوپه کارپوه کادرونو روزل.

د شرعیاتوپوهنځي له خوا روزل شوي مسلکي اوپه کارپوه کادرونه د هېواد په قضایي او ښوونیز نظام کې په دندو بوختیدل او په حقیقت کې د سیمه ییزې، ملي او ټولنیزې پرمختیا لپاره کار کول او د پوهنځی هدف تر ډېره حده درک کول.

تمه کیږي چې د پوهنځی د ټولو برخو فارغین به لاندې اهداف ترلاسه کړي.

۱.د اسلامي شریعت د لوړو مفاهیمو او د هیواد د لیکلو قوانینو په اړه دقیق پوهاوی.

۲.د هیواد په ښوونځیو ،مدرسو او لوړو زده کړومؤسسو کې د تدریس په ښه کولو کې د ترلاسه شویو نظري او عملي تجربو کارول.

۳.د هیواد د قضایي سیستم په ښه کولو کې د لاسته راغلو نظري او عملي تجربو څخه ګټه اخیستل.

۴.د اسلامي شریعت او د هېواد د نافذه قوانینو په رڼا کې د بېلابېلو قضیو د شنني او څېړنې د وړتیا ترلاسه کول.

۵.په اسلامي شریعت کې د مسایلو د سمې شنني، تفسیر او د معقولو قانوني متنونو د تحلیل او تفسیر وړتیا ترلاسه کول.

۶.د قضاء او افتاء په برخه کې د عملي مهارتونو لاسته راوړل.

**د پوهنځي په سطحه د ستر اتیژیک پلان لمړیتوبونه**

۱. ښه حکومتولي: اهدافوته د رسیدو په موخه د شرعیاتو پوهنځی له مهمو لومړیتونو څخه ښه حکومتولي ده چې لاندي پروګرامونه عملی کولای شو.

د پوهنځي د استادانو اداري کارمندانو او خدماتي کارکونکو تر منځ د اعتماد فضا ایجادول.

په پوهنځي کې د اداري فعالیتونو د ښه ترسراوي په موخه د داسې منظم سیستم ایجادول، چې د هغه په واسطه لوړ رتبه اداري کارکوونکو جذب اود موجوده استادانو او کارکوونکو علمي سطحه لوړه شي.

د ښو تحصلي خدمتونو په وړاندې کولو سره په ټولنه کې د پوهنځي حیثیت لوړولو ته جدي پاملرنه کول.

**۲.رهبري او مدیریت:** په یوه اداره کې اهدافو ته د رسیدو لپاره ښه رهبري او سالم مدیریت له مهمو اساساتو څخه شمېرل کیږي، شرعیاتو پوهنځی د سالمې رهبری په رامنځته کولو سره هڅه کوي تر څو د ښې حکومتولۍ په ټولو امورو کې ټول شموله مدیریتي تګلاره د اصل په توګه په نظر کې ونیسي او خپل فعالیتونه په ښه ډول پرمخ یوسي.

**۳.د فساد پرو ړ اندې مبارزه:** شرعیاتو پوهنځی پدې باوري ده چې د کوچني فساد موجودیت د ټول سیستم د تخریب لامل کیږي او په ټولنه کې د لاسته راوړنې باور او اعتماد د بایللو سبب ګرځي، سربېره پردې چې په اکاډمیکو محیطونو کې چې د ټولنې راتلونکې جوړونکي بلل کیږي د فساد شتون ډیر بد او مضر دی.

په همدې اساس شرعیاتو پوهنځی جدي تعهد لري چې په ټولو برخو کې د هر ډول فساد سره مبارزه او مقابله وکړي.

شرعیاتو پوهنځی خصوصا په لاندې برخو کې د فساد پر وړاندې مبارزه کوي.

۱ د استادانو، اداري او خدماتي کارمندانو ټاکل.

۲ محصلانو ته د درس او زده کړې زمینه برابرول.

۳ د زده کړې لپاره د امکاناتو برابرول.

۴ د کارمندانو د حاضري کنترول.

۵ د محصلانو د حاضرۍ کنترول.

۶ د کارمندانو او محصلانو ستونزو او شکایاتو ته رسیده ګي کول.

۷ د بودیجې اړونده لګښتونو حساب ورکول.

**اداري بیروکراسي:** اوسنۍ اداري بروکراسي د نړۍ په زیاتو اداراتو کې منل شوي ده. دغه تګلاره د دې ترڅنګ چې خپلې ځانګړنې لري، په ځینو اداراتو کې یې ستونزې هم پیدا کړي دي.

شرعیاتو پوهنځی هڅه کوي تر څو دغه پروسه، د پوهنځي په سطحه آسانه کړي او د اوږدې او پراخه اداري تشریفاتو څخه چې د فعالیتونو په ترسره کولو کې سستي رامنځته کوي مخنیوی وکړي، تر څو له یوه لوري څخه د تسلسل مراتب په شفاف ډول مراعات شوي وي او له بل لوري څخه به کارونه په آسانۍ پرمخ تللي وي، همدارنګه د مراجعینو ستونزوته به په شفاف ډول په آسانۍ سره رسیده ګي شوې وي.

**توامیتونه ( تفاهم لیکونه) :** د څیړنو او علمي تجربو شریکول، د تحصلي نهادونو او دولتي اداراتو سره د تفاهم لیکونو امضاء او توامیتونو ایجاد د اهمیت وړ امر او فعالیت دی.

شرعیاتو پوهنځی همدارنګه د ځینو علمي نهادنو (بنسټونو)، دیني مدارسو او دارالعلومونو سره د مرستې او همکارۍ تفاهم لیکونه لاسلیک کوي، چې د دغه توامیتونو په سبب د شرعیاتو پوهنځی او علمي بنستونو ترمنځ دوه جانبه همکارۍ ترسره شي.

شرعیاتو پوهنځي په پام کې لري چې په راتلونکو پنځه کلونو کې تقریبا پنځلس تفاهم لیکونه د دولتي ادارو، دیني مدارسو او علمي بنستونو سره لاسلیک کړي.

دا اقدام د دې سبب کیدای شي چې د شرعیاتو پوهنځي علمي څیړنې او تجربې د نورو نهادونو سره شریکې شي او همدارنګه به پوهنځی د علمي نهادونو له موندنو څخه مستفید شي چې یاده کړنه به د پوهنځي د لا ډیر پرمختک سبب وګرځي.

**د ټولنې په پرمختک کې د پوهنځي ډول:** اول دا چې د لوړو زده کړو نهادونو د تاسیس او علمي برنامو د ایجاد یو هدف د ټولنې په پرمختګ کې ونډه اخیستنه او دعلم تولید دی نو پدې اساس شرعیاتو پوهنځی تل هڅه کوي چې پدې برخه کې خپل سهم او برخه په ښه ډول ادا کړي.

شرعیاتو پوهنځی په راتلونکي کې تصمیم لري تر څو دلاندې مواردو په وسیله خپل مهم سهم د ټولنې په پرمختګ کې پوره کړي.

۱ د معیاري تحصلي خدمتونو لپاره زمینه برابرول.

۲ د عامه پوهاوي پروګرامونه ترتیبول.

۳ د کتابونو ترتیب او نشرول.

۴ علمي او فرهنګي مجلسونه دایرول.

۵ د علمي مقالو لیکنې سیالۍ په لاره اچول.

۶ د اسلام د دین له نظره په ټولنه کې د موجوده ستونزو په اړه علمي مقالې نشرول.

۷ په ټولنه کې د بیلابیلو فقهي او شرعي عامه پوهاوي په موخه رسنیو ته د استادانو استول.

**نظارت او ارزونه**

واضح خبره ده چې تنها د خدمتونو وړاندې کول او فعالیتونو تر سراوی د امورو د ښه والي لپاره کافي ندي، بلکې د ضعیفو او قوي نقاطو د پیداکولو په موخه ارزونې د دې سبب ګرځي چې د فعالیتونو ځانګړتیاوې او نیمګړتیاوې په ښه کمال او د دې نیمګړتیاوو د ختمولو او اصلاح لپاره د ښه والي پلان ترتیبول یو حتمي او لازمي امر دي.

د شرعیاتو پوهنځی په همدې اصل باور لري او د کال په اوږدو کې په بیلابیلو برخو کې ډول ډول ارزونې، د تدریس په برخه کې استادانو اداري کارمندانو او محصلانو برخو کې ارزونه ترسره کړي او د ارزونې تر سره کولو څخه وروسته د هغه تحلیل او نتیجه د ښه والي پلان د ترتیب په موخه مربوطو جهتونو سره شریک کړي.

شرعیاتو پوهنځی هڅه کوي تر څو په راتلونکي کې هم د ارزونې شفافیت وساتي او دغه اصل ته به خاصه پاملرنه کوي.

**علمي پروګرامونه**

د هر پروګرام ایجاد، د موسسې د تدریسي، علمي، تحصلي او تحقیقي خدمات په کیفیت پورې تړاو لري، شرعیاتو پوهنځی د دغه هدف د لاسته راوړلو په موخه له تاسیس څخه تر اوسه پورې د تحصلي خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې په شرعي علومو سمبال، عدلي قضایي کادرونو روزل او اسلامي کارپوهان ټولني ته وړاندې کولو فعالیت کوي.

شرعیات پوهنځی د دغه اهدافو لاسته راوړلو په موخه د ځوانانو او متخصصوکادرونو په ګمارلو کې اقدام کوي او د دغه استادانو د ظرفیت لوړونې لپاره یې علمي او تشویقي سیمینارونه دایرکړي دي.

همدارنګه شرعیاتو پوهنځی د غوره تحصیلي خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې په پام کې لري چې د اسلامي ثقافت ځانګه ایجاد او د اسلامي تعلیماتو او فقه قانون ځانګې فارغ ورکوونکې کړي.

**د علمي کادرونو د شمېر زیاتوالی**

څرنګه چې د پوهنځی تشکیل د دایمي او قراردادي علمي کادر غړو له نظره مناسب او کافي دی او همدارنګه د استاد او محصل تر منځ نسبت ۱۲/۱ دي. اما دا چې پوهنځی غواړي د محصلانو د جذب شمېر زیات کړي نو تر۱۴۰۷ کال پورې ۱۰ تنه استادان د ماسترۍ او دوکتورا په سویه جذب او مقرر کړي.

**د تحصلي نصاب انکشاف او بیا کتنه**

د علمي برنامو لرلید او موخو لاسته راوړلو لپاره د معیاري درسي نصاب شتون یو مهم عنصر دی پدې اساس د لوړو زده کړو وزارت په ټول هیواد کې د شرعیاتو پوهنځي لپاره نصاب ترتیب کړی دی.

شرعیاتو پوهنځی له تاسیس څخه را پدیخوا د لوړو زده کړو وزارت له لوري ترتیب شوي نصاب تطبیقوي او پوهنځي د نصاب د تطبیق څخه څارنه کوي او همدارنګه د نصاب د ښه والي په موخه په پوهنځی کې د نصاب کمېټه جوړه شوې ده.

د نصاب کمېټه په دوامداره توګه د لوړو زده کړو وزارت له لورې، د تائید شوې نصاب څخه څارنه تر سره کوي او د هغه د اصلاح او پراختیار لپاره کار کوي، د دې فعالیت لپاره د کریدیت لایحې پوهنځی ته اجازه ور کړېده، تر څو د خپل کاري محیط او غوښتنو په نظر کې  نیولو سره ۲۰٪ تغیرات په نصاب کې راولي.

شرعیاتو پوهنځي د نصاب د پراختیا په موخه تر ډیره استادان او محصلان د خیل کړي دي او د پوښتنپاڼو په مرسته د هغوی نظرونه راټولوي، د یادو نظرونو تر تحلیل وروسته په نصاب کې تغیرات راولي د دغه عمل تر سره کولوڅخه موخه لاندې موارد دي.

د موجوده نصاب څېړنه او ارزونه او په هغه کې د نیمګړتیاوو مشخصول د درسي مفرداتو بررسي او ارزونه او د نصاب سره د هغه څېړل.

د نویو درسي منابعو څېړنه او په کاري ساحه کې د موجوده ستونزو په نښه کول.

د ضرورت وړ مضامینو اضافه کول.

د لوړو زده کړو څېړنیز فعالیت سره د اصلاحاتو همغږي.

واضح درسي منابعو څخه د درسي موادو برابرول.

د نصاب کیفیت په برخه کې د محصلانو غوښتنې مشخصول.

د شرعیاتو پوهنځی په پام کې لري تر څو په راتلونکي کې پدې برخه کې زیات کار وکړي او تصمیم لري چې پدې برخه کې په زیاته کچه محصلین دخیل کړي. همدارنګه د نصاب کمیټې غړو ته به هم په مسلکي برخو کې د زده کړې زمینه برابره کړي.

**د درسي موادو نوي (آپډیټ) کول**

د علمي پروګرامونو په برخه کې یو مهم عنصر د کاري ساحې او علمي پرمختکونو مطابق د درسي موادو نوي کول دي په همدې اساس شرعیاتو پوهنځی هم دغه امر د خپل ستراتیژیک پلان د یوې مهمې برخې په توګه حسابوي، او هر کال به یې د ذکر شوو

مواردو مطابق نوی کوي، د دې کړنې ترسره کولو په برخه کې به د استادانو، محصلانو او مسلکي کسانو نظر هم اخیستل کیږي.

څرنګه چې عصري تکنالوژي په اوسنۍ زمانه کې د علمي پرمختګونو په برخه کې مهم رول لري، نو پدې اساس شرعیاتو پوهنځی هم هڅه کوي، چې درسي ټولګي مجهز او په عصري تکنالوژۍ سمبال کړي.

**د کیفیت لوړونې برنامې تطبیق**

د کیفیت لوړونې د برنامې تطبیق د پوهنځي له مهمو اولویتونو څخه شمېرل کیږي، او په عمومي ډول لاندې دوه برخو ته شاملیږي.

١ د کیفیت لوړونې د معیارونو تطبیق او اعتبار ترلاسه کول.

٢ د پوهنځي په سطحه د کیفیت لوړونې (کیفیت لوړاوي) کمیټې د فعالیتونو تقویت.

**د ظرفیت لوړولو پروګرامونه**

د استادانو، کارکونکو، شاګردانو د ظرفیت لوړل او شرعي برنامې په تعلمي موسسه کې یو له خورا مهمو فعالیتونو څخه دي چې د دې ادارې او شرعي برنامې وده تضمینوی. له همدې امله، د شرعیاتو پوهنځی تل هڅه کړې چې د سیمینارونو، ورکشاپونو او علمي غونډو له لارې د ظرفیت لوړولو ته وده ورکوي او په راتلونکي کې به د پوهنځي په کچه د ظرفیت لوړولو فعالیتونو ته دوام ورکړي.

**علمي ارزونې**

د شرعیاتو پوهنځي کې ارزونه یو له مهمو اصولو څخه ګڼل کیږي او کلنۍ ارزونه د پوهنځي په کچه په بیلابیلو برخو کې ترسره کیږي.

محصلین د امتحان، صنفي ارزونې او سیمینارونو له لارې، کارمندان د کلنۍ ارزونې له لارې، استادان د ځان ارزونې له لارې، او څانګې د اصلاحي ارزونې او کلنۍ ارزونې له لارې ارزول کیږي.

په راتلونکې کې به د شرعیاتو پوهنځی د پوهنځي په کچه د ارزونې پروسې ته وده ورکوي ترڅو په منظمه او شفاف توګه وړاندې لاړشي، د ښه والي په برخه کې د ارزونو لخوا پیژندل شوي ضعفونه مشخص کیږي، او نورانکشافي فعالیتونه به صورت ونیسي.

**علمي څیړنې**

د تدریس تر څنګ څیړنه یو مهم عنصر دی تحصیلي بنسټونه د دې بنسټ له امله تاسیس اوعلمي پروګرامونه هم د دې له امله ایجادیږي. د شرعیاتو پوهنځی علمي تحقیقات او انکشاف دخپل پلان مهمه برخه شمېرلې ده، او د دې لپاره یې څېړنې

کمېټه د پوهنځی په سطح ایجاد کړې ده. د پوهنځی څیړنې کمېټه د سیمینارونو د جوړولو مسوولیتونه، د څیړنې میتودونه ورکشاپونه، د کارونو ترسره کولو څرنګوالي خبرورکول،استادانو او محصلینوته د څیړنې نوي میتودونه، د استادانو سیمینارنو،مقالو او څیړنیزو کارونو کنټرول، د محصلینو مقالې او مونوګرافونه په غاړه لري.

دشرعیاتو پوهنځی هڅه کوي په راتلونکي کې د کمېټې فعالیتونو ته وده ورکړي او استادان او محصلین بهترینو علمي څېړنو ته تشویق کړي. همدارنګه عزم لري کومه د څېړنې کمېټه چې د شرعیاتو د پوهنځي په سطحه جوړه شوې ډېر فعالیت یې کړی ده.

**علمي فعالیتونه**

علمي فعالیتونه لاهم د هدف یوه مهمه برخه ده. او دیوې علمي کړنلارې مسؤلیتونه تشکیلوي. د شرعیاتو پوهنځی کې د دې مسؤلیت په درک کولو سره کوشش کوي ترڅو دغه فعالیتونه په احسن وجه سره پرمخ بوزي.

همدارنګه د شرعیاتو پوهنځی د خپلو علمي فعالیتونو په چوکاټ کې لاندې موارد په نظر کې لري:

- ❖ د شرعیاتو پوهنځي تحصیلي نصاب معیاري کول د نویو سرچینو په پام کې نیولو سره د کاري ساحو اړتیاوې پوره کول.
- ❖ د استادانو ،کارمندانو اومحصلینو لپاره روزنیز ورکشاپونه او سیمینارونه دایرول.
- ❖ داستادانو او محصلینو لپاره څېړنیز ورکشاپونه اوسیمینارونه دایرول.
- ❖ د څېړنیزو فعالیتونو ترسره کول
- ❖ د اسلامي ثقافت د دیپارتمنت جوړول.
- ❖ د اسلامی تعلیماتو، فقه اوقانون څانګو کې فارغین ورکول.

**د ښوونکو ،کارمندانواو زده کونکو لپاره د برخې اخېستل**

د شرعیاتوپوهنځي اداري اوعلمي کدري غړي د خپل مسؤولیت په درک کولو سره د ټولنې په پرمختګ کې لاندې فعالیتونه سرته رسوي:

- د ملي او نړیوالو ورځو لمانځنه
- د مذهبي مراسمو لمانځل.
- د استادانو په واسیطه په شرعي مسائلوکې سیمینارونه دایرول، اوپه دې سره د ټولنې په پرمختګ کې د دوی رول ته وده ورکول.
- په ملي اوبین المللی کنفرانسونو کې د استادانو، کارمندانو او محصلینو ګډون کول.
- د مختلفو مربوطه ادارو سره د څیړنو د پایلو شریکول.

- په رسنیو کې د خلکو د اړتیاوو سره سم مختلفو موضوعاتو په اړه د استادانو او کارکوونکو له خوا خپرونې کې شرکت کول.

### د معلوماتي ټیکنالوژۍ لاسرسی

ټیکنالوژي یوه پدیده ده، نن ورځ د نړۍ د ګرندي کیدو یوه مهمه برخه ده، او د فعالیتونو د شفافیت او ښه والي څخه شمیرل کیږي. له همدې امله د شرعیاتو پوهنځی زده کونکې ام آی اس په سیستم کې اکونټ لري چې محصلین په هغې کې ټولومربوطه برخوته لاس رسی پیداکوي، د وردګ لوړو زدکړو موسسه په دې میدان کې د پوهنځیو حمایت کوي او دي سیستم ته انکشاف ورکوي.

### د شرعیاتو پوهنځي ویب سایت

د شرعیاتو پوهنځی د تدریس او اداری امورو په اړه، د دوامداره خبر ورکولو لپاره ویب سایټ جوړ کړی ترڅو د دې سایټ له لارې استادان اومحصلین لازم معلومات ترلاسه کړي.

دشرعیاتو پوهنځی په نظر کې لري د ویب سایت د تقویت اوغنامندی په هکله لاندې تدابیر عملي کړي:

- د خبر ورکولو او نشراتو صحیح تنظیم.
- د پوهنځي، څانګو اوکمېټیو په اړه مهم موضوعات خپرول.

### لوړو زده کړو او د زده کوونکو ملاتړ ته لاسرسی

د شرعیاتو پوهنځی ژمنتیا لري ترڅو د وطن بچیان د علم په جوهر باندې سنبال کړي د شرعي علومو په میدان کې د دې هدف لپاره، د زده کونکو د پوهې کچې او ظرفیت لوړولو لپاره مختلف پروګرامونه چمتو کړي.

په خاص ډول لوړو زده کړو ته لاسرسی د زده کړه ئیزو خدمتونو وړاندې کول، د هیواد د ځوانانو لپاره د شرعیاتو پوهنځي د خدماتو په وړاندې کولو هڅه کوې، چې لاندې موارد پوره شي:

- ❖ د ډیرو زده کونکو جذب کول.
- ❖ د محصلینو دعلمي سیر لپاره زمینه برابرول.
- ❖ د غوره معیاري زده کړو چمتو کول.
- ❖ د ښځینه کتګورۍ زیاتوالې علمي خدمتونو او نورو څیړنیزو پروګرامونوته.
- ❖ د داسي محصلینو فراغت چې د زده کړې په کافي زیور باندې مزین وي.

**د پوهنځي د اصولو او ارزښتونو سره د نويو محصلينو آشنا کول**

د شرعياتو پوهنځی په هرسمسترکې د جديد الشمول محصلينو په راتلوسره ورته د معرفی غونډې دايروي او په هغه کې د ښه راغلاست ترڅنگ، د کاميابۍ مبارکي، د زده کړې اهميت، د لوړو زده کړو قانون، د کريديت سيستم، د تحصيلي څانگواهميت، د تضمين کيفيت پروسه او د موسسې او پوهنځي معرفي کولو باره کې معلومات وړاندې کيږي.

**الکترونيکي کتابخانه**

د معاصرو پرمختگونو په پام کې نيولو سره، د گړنديتوب اهميت د زده کړې او څېړنې د پروسې د اسان کولو په خاطر د الکترونيکي کتابخانو موجوديت د ډير اهميت لرونکي دي. پدې اساس د شرعياتو پوهنځی دې مهم کارته خاصه توجه کړې د (مکتبة الشاملة) او پي ډي اف فارمت کتابونو کتابخانې د استادانو، کارکوونکو او محصلينو په واک کې ورکول شوي دي.

**د لنډ مهاله روزنيزو پروگرامونو جوړول**

بې له شکه تنها د تحصيلي نصاب تطبيق د محصلينو د زده کړې د سطحې د ارتقا لپاره کافي نه ده، د نورو روزنيزو پروگرامونو د ترسره کولو اړتيا هم موجوده ده بناءً د شرعياتو پوهنځی په خاص ډول دې کار ته جدي توجه کړې ده، او محصلينوته يې د تفسير، ميراث، اوتجويد دورې جوړې کړي دي. او په آينده کې هم پلان لري چې دې دورو ته پراخوالي ورکړل شي.

**زيربناوې**

واضح ده، چې تحصيلي اوڅېړنيزه پروسه يو وسيع او سالم محيط ته اړتيا لري چې په هغې کې موقعيت د هربخش معين وي او استادان، کارمندان او محصلين په يو مساعد محيط کې خپلې کړنې مخ ته بيايي تر څو ټاکلی هدف ترلاسه شي.

د وردگ لوړو زده کړو موسسه د برابر تعمير لرونکې ده، د شرعياتو پوهنځی لپاره په دي تعمير کې دفترونه او مناسب صنفونه ټاکل شوي دي.

**د شرعياتو پوهنځی په نظرکې لرې چې په آينده کې لاندې موارد د مؤسسې په حمايت او امکاناتو د تخصيص په واسطه عملي کړې.**

- ❖ د شرعياتو پوهنځي لپاره د خپلواک کتابتون غوښتنه.
- ❖ د اسلامی تعليماتو او فقه قانون څانگو لپاره د مستقلو مجهزو دفترونو غوښتنه د مؤسسې څخه.
- ❖ د اسلامی ثقافت څانگې د منظوری غوښتنه له اړوند مقاماتوڅخه.
- ❖ د نورو محصلينو د جذب سره سم د لا زياتو معيارې درسي صنفونو غوښتنه.
- ❖ د شرعياتو پوهنځي په سطحه د جلسې د اتاق غوښتنه، د مؤسسې څخه، ترڅو د پوهنځي اړوند شوراگانو او کمېټوغونډې پکې ترسره شي.

## دریم فصل

### د چاپیریالي عواملو تحلیل

ستراتیژیک اهدافو ته اړتیا ده، ترڅو ځانګړې ستراتیژۍ په پام کې ونیول شي او هغه عوامل چې په دغه ستراتیژیو کې تأثیر لري په نښه شي.

د دې فصل په اول کې د ګټه اخیستونکو برخو هیلې او په دوهم ګام کې د چاپیریال داخلي او بهرنیو عواملو تحلیل څیړل کیږي

### د ګټه اخیستونکو خاوو هیلې توقعات پیژندل

د یوې علمي برنامې د پر مختګ او بدلون د مهمو عواملو څخه یو هم د **ګټه** اخیستونکو خاوو هیلې او توقعات درک کول او هغو ته سم ځواب ویل دي ،شرعیاتو پوهنځی د خپلو ګټه اخیستونکو خاوو سره په تعامل کې ده او د دوی سره د متاقبلو مثبتو اثراتو منو نکې ده او د هغو د ښو توقعاتو لپاره باید مناسبې ستراتیژۍ او برنامې باید په نظر کې ونیول شي.

د شرعیاتو پوهنځی د اکاډمیکو خدماتو د وړاندې کولو لپاره د ډیرو جهتونو سره په اړیکه کې ده چې له هغو څخه ځینې په لاندې ډول دي.

- د لوړو زده کړو وزارت
- د علمی کادرونو غړي.
- اداری کارکونکي او د خدماتو کارکونکي
- محصلان
- فارغ التحصیلان
- د دولتي او خصوصي برنامو پروګرامونه
- استخدامونکې ادارې.

په لاندې شکل کې د شرعیاتو پوهنځي ذي دخیل اړخونه په دریو چاپریالونو کې ښودل شوي

| لوی چاپیریال | رقابتي چاپیریال | داخلي چاپریال |
| --- | --- | --- |
| ۱سیاسي عوامل | ۱ مراجعین | ۱ مالی سرچینی |
| ۲اقتصادي عوامل | ۲سیالان | ۲بشري ځواک |
| ۳کلتوري عوامل | ۳عالي اداري برخې | ۳ زده کړه او څیړنه |
| ۴ټولنیز عوامل | ۴دولتي او غیر دولتي مختلف بنسټونه | ۴ مدیریت |
| ۵تخنیکی عوامل | | ۵ روانه تګلاره |

د شرعیاتو پوهنځی ګټه اخیستونکی د مؤثریت له نظره په دوو برخو ویشل شوی دی.

۱ـ داخلي ګټه اخیستونکي چې مستقیم تاثیر لري.

2 ـ خارجي ګټه اخیستونکي چې غیر مستقیم دي.

### د ګټه اخیستونکو توقعات او هیلې

لکه څنګه چې مخکې د واحدونو او جهتونو په اړه خبرې وشوې چې د ګټه اخیستونکو څخه شمیرل کیږي ، په لاندې ډول دهرې برخې توقعات او هیلې بیانیږي.

- د لوړو زده کړو له وزارت څخه هیلې او توقعات.

د قوانینو او مقرراتو او لایحو رعایت کول.

د هیواد د سترو ملي ستراتیژیو په لور حرکت.

د لوړو زده کړو وزارت په ستراتیژیک پلان کې ټاکل شوو اهدافو ته رسیدل.

- د مؤسسې د مشرتابه هیلې او توقعات.

د مقرراتو او طرزالعملونو رعایت کول.

د مؤسسې د ستراتیژیک پلان په لور حرکت.

د هغو امکاناتو او اسانتیاو څخه په استفادې چې مؤسسې پوهنځی ته په واک کې ورکړې دي د معیاري تعلیمي خدماتو چمتو کول.

د دیني او حقوقي علومو په برخه کې د ژمنو او متخصصو اشخاصو د کیفیت لوړول.

د لوړو زده کړو په اړه محوري څیړنې.

- د اکاډمیکو کارمندانو هیلې اوتوقعات

د دیني او حقوقي علومو په برخه کې د علمي څیړنو لپاره د زمینو او اسانتیاوو برابرول.

د برنامو محوري څیړنه.

د زده کړې د کچې د لوړولو لپاره تحصیلي بورسونو ته معرفي کول.

د ظرفیت لوړولو پروګرامونو برابر ول.

- د پوهنځي د اداري کارکوونکو توقعات او هیلې

د کار په برخو کې د ظرفیت لوړولو لپاره د روزنې کورسونه برابرول.

د ټولنې په پرمختګ کې د برخې اخستلو لپاره زمینه برابرول.

د اړوندو چارو د ښه کولو لپاره د ظرفیت لوړونې د کورسونو چمتو کول.

- د محصلانو توقعات او هیلې

د معیاري لوړو زده کړو برابرول.

په دې برخه کې د څیړنې اسانتیاوې برابرول او د هغوی ملاتړ کول.

د لنډ مهاله او اوږد مهاله بورسونو برابرول.

د رواني او تعلیمي مشورې ورکولو ځانګو کې خدمات وړاندې کول.

د نوي تدریسي میتودونو تطبیق.

د کارې ساحو اړتیاوو سره د امکان تر حده د پوهنځي نصاب تطبیق کول.

د نسبي کارونو او علمي کورسونو په برخو کې د لا زیاتو برخو چمتو کول.

- د فارغینو هیلې او توقعات

په دولتي او خصوصي ادارو کې د استخدام امکانات برابرول.

د نورو زده کړو لپاره د بورسونوچمتو کول.

د مؤسسې په بیلابیلو ځانګو کې د وړ فارغانو د جذب لپاره د فرصتونو برابرول.

- د نورو برنامو تمه او توقعات لکه

په علمي څېړنو کې ګډون.

د علمی تبادلو مقدار زياتول.

د يو بل د اسانتياوو څخه د استفادې فرصتونه برابرول.

- د استخدامونکو څانګو تمه او توقعات

د شرعي او قانونی موضوعاتو په مقايسوي برخو کې د محصلينو د ظرفيت لوړول.

د کاري ساحو له غوښتنو سره سم د نصاب د تازه کولو په برخه کې لا زياتې هڅې.

د څېړنې په برخه کې د محصلينو د ظرفيت لوړول.

**١. قانوني سياسي چاپيريال**

الف – فرصتونه:

.د لوړو زده کړو په برخه کې د دولت اهتمام او د ټولنې لېوالتيا.

.د لوړو زده کړو لپاره د ستراتيژيک پلان شتون.

د علمي فعاليتونو د زياتوالي او د استادانو د ظرفيت د لوړولو په موخه د لوړو زده کړو د نوي قانون تصويب.

ب - ګواښونه:

په دولتي ادارو کې اداري فساد.

د لوايحواو مقرراتو له وخت د مخه بدلول ، کوم چې په طرزالعملونو کې د ګډوډۍ لامل کيږي.

د ټولو دولتي او خصوصي نهادونو لپاره د فرصتونو غير عادلانه ويش.

په هيواد کې د علمي پروګرامونو ترمنځ د علمي تبادلې نشتوالی.

د مجازاتواو مکافاتو د سيستم نيمګړی پلي کول.

د لوړو زده کړو سستم محوري نه دی.

په اجراآتو کې دهغه ادارې خپلواکي نه لرل چې د شرعياتو پوهنځی د مقرراتو په چوکاټ کې فعاليت کوي

**2 اقتصادي چاپېريال**

الف – فرصتونه:

په خصوصي سکټور کې پانګونه.

د عايداتي پروژو او څېړنو شتون.

په موسسو او پروګرامونو کې د څېړونکو علمي ورتيا.

د څېړنې لپاره د عامه او خصوصي مرکزونو او بنسټونو اړتيا.

ب - ګواښونه:

د نهاد پوهه شرکتونو نشتوالی.

د نوښت او څېړنې پر بنسټ د فعاليتونو پر ځای د سوداګريزو فعاليتونو پراختيا.

.د هيواد اقتصاد په بهرنيو مرستو پورې تړلی دی.

**ټولنيز او کلتوري چاپېريال**

الف – فرصتونه:

.د ټولنې د ځوانانو ترمنځ لوړو زده کړو ته لېوالتيا.

د ټولنې باور زياتيدل.

د تکړه ځوانانو شتون.

د هيواد په پرمختګ کې د علم او څېړنې په ارزښت کې د کورنيو کلتوري باور.

د ډيرو بنسټونو او مرکزونو هيله چې ځوان متخصصين او مسلکيان جذب کړي.

ب - ګواښونه:

.په داخلي څېړونکو کمزوری باور.

.د تعليمي موندنو په پلي کولو کې ضعف.

.په فقه او حقوقي علومو کې د شاملدلو د غوښتنې حجم

.د کلتوري ملکیتونو د حمایت لپاره د کلتوري زیربنا نشتوالی.

د ښوونځي د نصاب او د پوهنځي د شرطونو تر منځ نا انډولي.

**(4)تخنیکي چاپیریال**

الف – فرصتونه:

.د مجازی فضا پراخه کول او په څېړنه کې د دې کارولو امکان.

په نړیواله شبکه کې د شته علمي او مدیریتي سرچینو شتون.

د الکترونیکي شبکو له لارې په تیټه بیه د چټکو نړیوالو مخابراتي اسانتیاوو پراختیا.

د معلوماتو لپاره د ټیکنالوژۍ کارولو امکان.

ب – ګواښونه

په هیواد کې د ټکنالوژۍ د کافي او اغیزمنې استفادې لپاره د اړینو زیربناوو نشتوالی.

.د څېړنې او پراختیا اړتیا نه احساس کول.

**د داخلي چاپیریال فکتورونو تحلیل.**

د داخلي چاپیریال فکتورونو په تحلیل کې، پوښتنلیکونه د لاندې شاخصونو پر بنسټ ویشل شوي او نظرونه متحد شوي.

څېړنې

مدیریت

ښوونیز خدمتونه

پرمختیایي پروګرامونه

علمي پروګرامونه

کادری او اداري بشري منابع

امکانات

**تهاجمي ستر اتیژیانې:**

په دې استراتیژۍ کې هڅه شوې چې له داخلي قوتونو په استفادې له بهرنیو فرصتونو څخه ګټه پورته کړي.

۱- شرعیاتو پوهنځی باید له خپلې سالمې او فعالې کړنلارې څخه په استفادې د دې ادارې زیات پام او ملاتړ تر لاسه کړي.

۲- د معیاري ښونیزو خدمتونو په وړاندې کولو او له دیني ښونیزو مرکزونو سره د تړونونو په را منځته کولو سره به د ټولنې د ځوانانو له استعدادونو څخه چې له شرعي علومو سره علاقه لري ښه ګټه پورته کړي او د دیني زده کړو له مرکزونو او دارالعلومونو سره به د خلکو علاقه زیاته شي چې د شرعي علومو په برخه کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي.

۳- د معیاري ښوونیزو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د پوهنځی ژمنتیا او د ظرفیت لوړولو پرګرامونو شتون به په ټولنه کې د لازیاتو متخصصو کدرونو د جذب لامل شي.

**محافظه کاره ستر اتیژي:**

په دې استراتېژۍ کې له بهرنیو فرصتونو څخه د داخلي کمزوریو د اصلاح هڅه شوی ده :

۱- د شرعیاتو پوهنځی د اسلامي علومو په برخه کې د ځوانانو د لیوالتیا او د ادارې په ملاتړ او هکماري هوډ لري،چې د شرعیاتو پوهنځي په چوکاټ کې د اسلامي علومو پو هنځي بشپړ او داسلامي ثقافت ځانګه جوړه کړی.

۲- د مؤسسې امکاناتو او حمایت نه په استفادې د پوهنځی په سطحه زیات کارونه تر سره شي.

**رقابتي تګلاري:**

په دې ستراتېژي کې هڅه کېږي چې د قوتونو په کارولو سره د بهرنیو ګواښونو اغیزې کمې کړي.

۱- د شرعیاتو پوهنځي د خپلو متخصصو او روزل شویو علمي کارکوونکو او همدارنګه د انتخاب او څېړنیزو کمیټو په مرسته هڅه کوي چې د شرعي علومو تعلیمي او علمي مواد په دری او پښتو ژبو چمتو کړي.

۲- د شرعیاتو پوهنځی د تدریسي میتودونو په برخه کې د ظرفیت د لوړولو په موخه د معیاري آزموینو او پرګرامونو په برابرولو سره عصري میتودونو پایلې څرګندوي او د شرعي علومو د تدریس په برخه کې دودیز میتودونه کموي.

۳- د شرعیاتو پوهنځي د څېړنیزو فعالیتونو په پرختیا سره هڅه کوي چې د شرعیاتو او فقهې په برخه کې د څېړنې د روحیې په خپرولو سره په علمې ټولنه کې اغېزمن شي.

**د فاعي ستر اتېژي:**

په دې ستراتېژۍ کې د شته کمزوریو په لرې کولو سره د ګواښونو د مخنیوي هڅې کېږي.

۱- د شرعیاتو پوهنځي د اسلامي ثقافت د ځانګې په جوړولو او داسلامي تعلیماتو د ځانګې په بشپړولو سره هڅه کوي چې د شرعي علومو په برخه کې دودیزو میتودونو ته تمایل را کم کړي.

۲- شرعیاتو پوهنځي د اسانتیاوو په رامنځته کولو سره هڅه کوي چې په ټولنه کې د عملي څېړنې او عملي تطبیق د روحیې په لوړولو کې د پام وړ ونډه واخلي .

**د پرتله کولو پایلې:**

فکتورونو ته په کتو سره لیدلی شو چې د شرعیاتو پوهنځي ستراتېژیک دریځ په تدافعي حالت کې دی او د کمزورو ټکو د کمولو او د ګواښونو د اغېزو د کمولو په لور روان دی.

## څلورم فصل

### د ممکنه ستراتیژیو انتخاب

د محیطي عواملو تر تحلیل وروسته، د ستراتیژیک پلان د کمیټې د غړو د نظرونو په اساس، د لومړیتوبونو له مخې لاندې ستراتیژۍ ټاکل کیږي.

**۱- لوړو زده کړو ته لاس رسی:**

- د زده کوونکو د شمیر زیاتوالی.
- د اسلامي علومو په برخه کې زده کړو ته د ښځینه طبقې د لاسرسي زیاتوالی.
- د اړتیا سره سم د نصاب قوي کول.

**۲- د علمي او څیړنیزو څانګو وده:**

- مناسب تدریسي موادو ته پراختیا ورکول.
- علمي ازادي.
- د تدریس کیفیت لوړولو او ښه کولو لپاره یو پلان جوړول.
- د لیسانس، ماسټر او دوکتور په کچه د استادانو استخداموال.
- د کادري اعضاوو د ظرفیت لوړول.

**۳- ښه حکومتولي:**

- د روڼتیا رامنځته کول.
- د حساب ورکولو روحیه لوړول.
- د امکان تر حده د بیروکراسۍ کمول.

**۴- الکترونیکي زده کړه:**

- تعلیمي ویډیوګانې جوړول.
- د آنلاین کورسونو دائرول.
- د الکترونیکي زده کړو د بیلابیلو برخو پراختیا.

**۵- د علومو څخه کاراخیستنه:**

- د ټولنیزو ستونزو په برخه کې د شرعي او حقوقي علومو په رڼا کې څیړنې ترسره کول.

- د ټولنې او کاري ساحو اړتیاوو سره سم د نصاب دوامداره بدلون.
- د کاري ساحو اړتیاوو ته په پام سره د عملي پروګرامونو زیاتوالی.
- په ټولنه کې د یوې اغېزمنې علمي او څېړنیزې ادارې په توګه د پوهنځي د موقف ښه کول.

**۶.د ټولنې په پرمختګ کې رول:**

- د ټولنې په پرمختګ کې د امکان تر حده د استادانو ملاتړ او هڅول.
- د ټولنې په پرمختګ کې د زده کونکو زیات ملاتړ او هڅول.
- د ټولنې په پرمختګ کې د ډیرو کارمندانو ملاتړ او هڅول.
- د ټولنې په پرمختګ کې د رول لرلو زمینه برابرول.

**۷. د مالي او اداري څانګو وده:**

- د پوهنځي د بودیجې زیاتوالی.
- د موسسې د عاید په زیاتوالي کې ګډون.
- د ښه مدیریت او رهبرۍ رامنځته کول.
- د فعالو او ژمنو بشري منابعو استخدامول.
- د کارمندانو ترمنځ د همکارۍ او مسؤلیت روحیه پیاوړې کول.

**۸ - د شراکت جوړول:**

- د دیني تعلیمي مرکزونو او دارالعلومونو سره د تړونونو پراختیا.
- د خصوصي او دولتي پوهنتونونود شرعیاتو پوهنځیو سره تړونونو رامینځته کول.

د تړونونو د موثریت زیاتول او ورڅخه ښه استفاده کول.

د لاندې جدول ۳ کالم ضریب (چې د ټولو عواملو د ضرایبو مجموعه تر ۱۰۰ زیاته نشي)، ۴ کالم امتیازونو (چې هر قوت ته ۳ یا هم ۴ او هر ضعف ته ۱ یا هم ۲ امتیاز ورکول کیدی شي)، او ۵ کالم د ضرب حاصل(د ضریب او امتیاز) ته ځانګړي شوي دي.

| شمېره | **داخلي عوامل (قوتونه)** | ضریب | امتیاز | نمره |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د ځوان او با انرژي علمي کادرونو او اداري کارکوونکو درلودل. | 0.06 | 4 | 0.24 |
| ۲ | د سالم مدیریت شتون. | 0.04 | 3 | 0.12 |
| ۳ | د کیفیت اوظرفیت لوړاوي د پروسې شتون. | 0.04 | 3 | 0.12 |
| ۴ | د پوهنځي په کچه د کتابتون شتون. | 0.04 | 4 | 0.16 |
| ۵ | په تدرسي اواداري کړنو کې شفافیت رامنځته کول. | 0.03 | 4 | 0.12 |
| ۶ | په دوامداره توګه داستادانو ،مدیرانو اومحصلانو څارنه. | 0.04 | 4 | 0.16 |
| ۷ | په پوهنځی کې د نویوڅانګو د ایجاد په برخه کې د توجه شتون. | 0.07 | 4 | 0.2 |
| ۸ | د پوهنځی د راتلونکو زیربنایي تاسیساتو لپاره دکافي ځمکې موجودیت. | 0.05 | 4 | 0.2 |
| ۹ | د منظم کمپیوټر لب شتون. | 0.03 | 4 | 0.12 |
| ۱۰ | منظمه رهبري اومتعهد کاری ټیم درلودل. | 0.02 | 4 | 0.08 |
| ۱۱ | د پوهنځی په کچه د مختلفو کمېټو شتون. | 0.05 | 4 | 0.2 |
| ۱۲ | د HEIMS سیستم تطبیق. | 0.03 | 3 | 0.09 |
| ۱۳ | د کریډیټ سیستم تطبیق. | 0.03 | 3 | 0.09 |
| ۱۴ | د نوي درسي نصاب تطبیق | 0.03 | 4 | 0.12 |
| ۱۵ | د استاد او محصل ترمنځ د $\frac{۱}{۲۵}$ نسبت شتون. | 0.06 | 3 | 2.18 |
| | **داخلي عوامل (ضعفونه)** | | | |
| ۱۶ | د ماسټري او دوکتورا په سویه د علمي کادرونو کمبود. | 0.05 | 1 | 0.06 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۷ | د مجهزو معياري ټولګيو کمښت. | 0.03 | 2 | 0.06 |
| ۱۸ | په پوهنځي کې د څانګو کمبود. | 0.05 | 2 | 0.1 |
| ۱۹ | د پوهنځی په سطحه د کتابتون انټرنيټ او الکټرونيکي امکاناتو کمبود. | 0.05 | 1 | 0.05 |
| ۲۱ | په ټولګيوکې د درسي اسانتياوو(څوکی، پروجيکتور او......) کمښت. | 0.06 | 1 | 0.06 |
| ۲۲ | د علمي سفرونو نه شتون. | 0.04 | 1 | 0.04 |
| ۲۳ | داستادانو د تدريسي مکلفيت اوعلمي کړنو د اندازه کولو لپاره دمکانيزم نه تطبيق. | 0.04 | 1 | 0.4 |
| ۲۴ | د عايداتي منابعونه شتون. | 0.01 | 2 | 0.02 |
| ۲۵ | د اداري کارکوونکو او قراردادي استادانو لپاره نامناسبه حق الزحمه. | 0.03 | 2 | 0.06 |
| ۲۶ | مناسب تدريسي چاپيريال نشتون. | 0.04 | 1 | 0.04 |
| **مجموعه** | | 1 | 69 | 2.72 |

**بيروني وضعيت تجزيه او تحليل**

د لاندې جدول ۳ کالم ضريب (چې د ټولو عواملو د ضرايبو مجموعه تر ۱۰۰ زياته نشي)، ۴ کالم امتيازونو (چې هر فرصت ته ۳ يا هم ۴ او هر تهديد ته ۱ يا هم ۲ امتياز ورکول کيدی شي)، او ۵ کالم د ضرب حاصل(د ضريب او امتياز) ته ځانګړی شوی دی.

| شمېره | بيروني عوامل (فرصتونه) | ضريب | امتياز | نمره |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | له لوړو زده کړو سره د ځوان نسل ليوالتيا. | 0.05 | 4 | 0.2 |
| ۲ | له اړونده تعليمي اداراتو سره د ښه اړيکو درلودل. | 0.04 | 4 | 0.16 |
| ۳ | د نوي علمي تکنالوژی د تطبيق لپاره ظرفيتونو شتون. | 0.06 | 4 | 0.24 |
| ۴ | د ټولنې همکاري او ملاتړ درلودل. | 0.05 | 4 | 0.2 |
| ۵ | په هيواد کې دننه لنډ مهاله مسلکي کورسونو او ورکشاپونو درلودل. | 0.04 | 4 | 0.16 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 0.16 | 4 | 0.04 | د زیربنا لپاره د لازم چاپیریال شتون. | ۶ |
| 2.36 | 4 | 0.09 | د پاډمن امنیت شتون. | ۷ |
| 0.24 | 4 | 0.06 | په ټولنه کې د ښه نوم درلودل. | ۸ |
| بیروني عوامل (تهدیدونه) | | | | |
| 0.16 | 2 | 0.08 | د محصلینو لپاره د لیلیې نه شتون. | ۹ |
| 0.08 | 2 | 0.04 | د نصاب مطابق د درسي منابعو نشتون. | ۱۰ |
| 0.16 | 2 | 0.08 | د زده کړولپاره د مناسب مطالعاتي چاپیریال نه شتون. | ۱۱ |
| 0.14 | 2 | 0.07 | د کانکور له لارې د با استعداد محصلینو نه معرفي کول. | ۱۲ |
| 0.18 | 2 | 0.09 | د علمي کادرونو اوخدماتي کارکوونکومحدود تشکیل. | ۱۳ |
| 0.08 | 2 | 0.04 | د استادانو د معاشاتو کمښت. | ۱۴ |
| 0.08 | 2 | 0.04 | د علمي کادرونو په جذب کې د ماستری/ دوکتورا په کچه د علمي کادرنو کمښت. | ۱۵ |
| 0.18 | 2 | 0.09 | په ګمارنو کې دغیر ذي ربط اشخاصو او ادارو لاس وهنه. | ۱۶ |
| 0.08 | 2 | 0.07 | د ټولني ضعیف اقتصادي وضعیت. | ۱۷ |
| 3.58 | 50 | 1 | **مجموعه** | |

د پورته ذکر شویو قوت نکاتو او فرصتونو څخه په استفاده سره هڅه کیږی چې ضعفونه له منځه یوړل شي اوتهدات دفع کړای شي، چې ۳ شمیره جدول کې په ګوته شوی دي.

**جدول 4 : د سوات ماتریکسSWOT پواسطه تحلیل او تجزیه**


| | قوتونه (S) | ضعفونه (W) |
|---|---|---|
| خارجی عوامل | 1. د ځوان او با انرژي علمي کادرونو او اداري کارکوونکو درلودل.<br>2. د تمثیلی محکمولپاره سالمو برناموشتون<br>3. د پوهنتون په کچه د کتابتون شتون.<br>4. منظمه رهبري او متعهد کاري ټیم درلودل.<br>5. د پوهنتون په کمپیوټر کې غړیتوب درلودل.<br>6. د پوهنځی په کچه د لسو کمپیوټرو شتون.<br>7. د کریډیټ سیستم تطبیق.<br>8. په کافي اندازه د اداري منابعو شتون.<br>9. د نوي درسي نصاب تطبیق.<br>10. اداري تعمیر.<br>11. مجهز ټولګی درلودل.<br>12. د HEMIS سیستم تطبیق.<br>13. د انټرنیټ شتون.<br>14. د استاد او محصل ترمنځ د $\frac{١}{٢٥}$ نسبت شتون.<br>15. د منظم کمپیوټر لب شتون. | 1. د ماسټري او دوکتورا په سویه د علمي کادرونو کمبود.<br>2. د مجهزو معیاري ټولګیو کمښت.<br>3. په ټولګي کې د درسي اسانتیاوو کمښت.<br>4. مناسب تدریسي چاپیریال نشتون.<br>5. څیړنیز مرکز نشتون.<br>6. د استادانواو اداري کارکوونکو د کورونو ستونزه.<br>7. د تمثیلی محکمولپاره تالار نه درلودل.<br>8. په پوهنځی کې د څانګو کمبود.<br>9. د علمي سفرونو نه شتون.<br>10. د پوهنځی په سطحه د کتابتون انټرنیټ اوالکترونیکی امکاناتو کمبود. |

| | | |
|---|---|---|
| فرصتونه(O)<br>1. له لوړو زده کړو سره د ځوان نسل لیوالتیا.<br>2. په ټولنه کې د ښه نوم درلودل.<br>3. له اړونده تعلیمي اداراتو سره د ښه اړیکو درلودل.<br>4. د نوي علمي تکنالوژۍ د تطبیق لپاره ظرفیتونو شتون.<br>5. د ټولنې همکاري او ملاتړ درلودل.<br>6. په هیواد کې دننه لنډ مهاله مسلکي کورسونو او ورکشاپونو درلودل.<br>7. د زیربنا لپاره د لازم چاپیریال شتون. | له (S1) څخه په استفادې سره (O1) او (O3) ته لاسرسی مومو.<br>له (S2) څخه په استفادې سره ځانونه (O1) او (O4) ته رسولی شو<br>له (S4) څخه په ګټه اخیستنې سره کولای شو (O6) ته ورسیږو.<br>له (S7) څخه په کار اخیستلو سره کیدای شي (O2) او (O4) تر لاسه شي. | له (O1)، (O3)، (O4) او (O5) څخه په ګټه اخیستنې سره (W1) له منځه وړ کیدی شي.<br>له (O3) او (O7) په کارولو سره (W2) او (W3) رفع کیدای شي.<br>له (O3) او (O4) په کارولو څخه په استفادې سره (W4) له منځه وړلی شوو. |
| تهدیدونه(T)<br>1. د آزموینو ملی اداري له لارې د ټیټې سویې محصلینو معرفي کېدل.<br>2. د علمي کادرونو او خدماتي کارکوونکو محدود تشکیل.<br>3. د استادانو د معاشاتو کمښت.<br>4. د نصاب مطابق د درسي منابعو نشتون.<br>5. په ګمارنو کې د غیر ذی ربط اشخاصو او ادارو لاس وهنه.<br>6. د ټولنې ضعیف اقتصادی وضعیت.<br>7. د محصلینو لپاره د لیلیې نه شتون. | د (S2)، (S4) او (S7) په کارولو سره (T1) دفع کیدی شي.<br>له (S7) او (S9) په کارولو سره (T4) له منځه تللی شي.<br>د (S1) په ذریعه (T6) دفع کیدای شي. | |

**شرعیاتو پوهنځی ستر اتیژیک موقیعت**


د داخلي او خارجي وضعیت اړوند کومې پوښتنپاڼې چې د خبره کسانو لخوا ډکې شوي پر مټ د امتیازاتو د محاسبې په وسیله د شرعیاتو پوهنځی ستراتیژیک موقیعت ټاکل شوی او په لاندې ډیاګرام کې ښودل کیږي.

د داخلي او خارجي فکتورونو په نه خونو میټرکس کې که چیرې د نمرو له مخې، د پوهنځی موقعیت په VI، III، II خونو کې ځای په ځای شي نو دا د پوهنځی وده او پرمختګ څرګندوي. او که دا په IX, V, I خونو کې ځای پرځای شي، دا د پوهنځی د ساتنې او ثبات ستراتیژیو استازیتوب کوي. او که چیرې دا د IIX, VII, IV په خونو کې ځای پرځای شي، دا د دفاعي او کمولو ستراتیژیو ته اشاره کوي. نو د شرعیاتو ستراتیژیک موقعیت د اخیستل شوو نمرو له مخې په VI،III خونه کې موقعیت لري چې د وده او پرمختګ څرګندوي.



**د شرعيات پوهنځی ستر اتيژيک حالت**

د داخلي او خارجي وضعيت اړوند کومې پوښتنپاڼې چې د خبره کسانو لخوا ډکې شوي پر مټ د امتيازاتو د محاسبې په وسيله د شرعيات پوهنځی ستراتيژيک حالت ټاکل شوی او په لاندې ډياګرام کې ښودل کیږي.  نو د شرعياتو پوهنځی ستراتيژيک حالت د اخيستل شوو نمرو له مخې په اوله خونه کې موقعيت لري چې تدافعي حالت څرګندوي.



## مالي، اداري او علمي خپلواکي

مالي او اداري خپلواکي ترلاسه کول له پوهنتون سره د مالي خپلواکۍ د تر لاسه کولو په برخه کې همکاري کول: د هیواد په کچه اوسنیحالت ته په کتو د هیواد ټول دولتي لوړو زده کړو بنسټونه له دولت څخه په مالي ډول حمایه کیږي، یوازې دا نه چې په مالي ډول د دولت د تقویې په برخه کې مرستې نشي کولای، لیکن د دولت د بودیجې یوه لویه برخه مصرفوي، د شرعیاتو پوهنځۍ هوډ لري چې مالي استقلالیت ته د رسیدلو لپاره په پنځو کلنو کې خپل فعالیتونه د مؤسسې د ستراتیژیک پلان او پالیسیو سره په مطابقت کې او د نورو پوهنځیو سر د ګډو همکاریو په اساس، په داسې ډول تنظیم کړي چې د خپلو اغیزمنو کړنو په پایله کې د دولت بودیجې ته د یو مقدار عوایدو د زیاتوالي سبب شي. دې موخې ته د رسید لو په پار پوهنځۍ به (د کادري او مسلکي غړو ځیړنیزو او علمي ظرفیتونو لوړول، شپې برنامو ایجادول، له اړونده ادارو سره هوکړه لیکونو لاسلیک کول، له شرکاوو سره په ګډه د څیړنو تر سره کول، د تمثیلي محکموا ایجادول او تجهیزول، د پوهنتون په سطحه باکیفیت کفټریا جوړول، لنډ مهاله مسلکي روزنیز کورسونو رامنځته کولو په پروګرامونو باندې تمرکز کوي.

أ) د کادري او مسلکي غړو څیړنیزو او علمي ظرفیتونو لوړول.

ب) د شپې برنامو ایجادول.

ت) له اړونده ادارو سره هوکړه لیکونو لاسلیک کول.

ث) له شرکاوو سره په ګډه د څیړنو ترسره کول.

ج) د تمثیلي محکمولپاره پروګراموجوړول.

ح) د پوهنتون په سطحه د باکیفیته کفټریا جوړول.

خ) لنډ مهاله مسلکي روزنیز کورسونو رامنځته کول.

د) د کادري او مسلکي غړو څیړنیزو او علمي ظرفیتونو لوړول:

دا یو روښانه حقیقت دی چې د څانګې، پوهنځۍ او پوهنتون پرمختګ او پیاوړتیا د کادري او مسلکي غړو په ظرفیت او علمي کچې او مهارتونو پورې اړه لري، د دې لپاره چې د شرعیاتو پوهنځۍ استادان او مسلکي کارکونکې د عصري تکنالوژۍ او لابراتواري وسایلو او ماشین آلاتو په کارولو سره په ملي او نړیواله کچه اړینې او مهمې څیړنې ترسره او مهمې څیړنیزې پروژې پرمخ یوسي اړینه ده چې کادري غړي او مسلکي کارکوونکي پدې برخه کې کافي پوهه او مهارتونه ولري، کوم څه چې زمونږ د هیواد د تحصیلي بنسټونو یو له سترو ستونزو څخه دی، د شرعیاتو پوهنځۍ د خپلو کارمندانو د ظرفیت لوړونې پروسې ته په اولویت ورکولو سره د پنځو کلنو په اوږدو کې د خپل لیسانس استادانو ماسترۍ کچې ته د رسولو تر څنګ د مختلفو لنډمهاله روزنیزو پروګرامونو کې د استادانو او مسلکي غړو د ګډون زمینې برابرولو هڅو ته دوام ورکوي.

**أ)** د شپې برنامو ایجادول:

دا چې د هیواد د ناوره شرایطو په اساس زمونږ د ټولنې د ځوان کهول یوه ستره برخه د کورنیو ستونزو له کبله نشي کولای خپلو لوړو زده کړو ته ادامه ورکړي او د ورځې په اوږدو کې په مختلفو دندو او فعالیتونو باندې بوخت وي. د شرعیاتو پوهنځی د دې ستونزې په درک کولو سره، د شپې برنامو د ایجادولو هوډ لري څو له یوې خوا یې د هیواد د ځوان نسل لپاره لوړو زده کړو ته د لاس رسي زمینه برابره کړي وي او له بلې خوا یې د پوهنځی او پوهنتون د مالي ملاتړ په برخه کې اغېزمن اقدام تر سره کړی وي.

**ب)** له اړونده ادارو سره هوکړه لیکونو لاسلیک کول:

پوهنځی د محصلینو او استادانو د علمي او مسلکي مهارتونو لوړولو په موخه له نورو څخه د مناسبو همکاریو لاسته راوړلو په پار او همدا راز د استادانو او محصلینو مهارتونو څخه په ګټې اخېستنې د ټولنې په پرمختګ کې رغنده رول لرلو په خاطر  لیوالتیا لري چې له مختلفو داخلي او د امکان په صورت کې له بهرنیو اړونده ادارو سره تفاهم لیکونه لاسلیک کړي. له نوموړو تفاهم لیکونو څخه په استفادې به د پوهنځی کارکوونکو ته په مختلفو علمي پروګرامونو کې د ګډون زمینه برابره شي، همدا راز به استادان وکولای شي چې د ټولنې مختلفو برخو کې د خپلې پوهې او مهارتونو څخه  په کټه  اخیستنې خپل خدمات وړاندې کړي ترڅو د ټولنې د پرمختګ سبب شي. له استادانو علاوه محصلین او اداري کارمندانو لپاره به هم په مختلفو برخو کې د ظرفیت لوړونې زمېنې برابرې شي.

**ت)** له شرکاوو سره په ګډه د څېړنو تر سره کول:

د اوسني بشري ټولنې پرمختګ ستر راز د ساینس او ټیکنالوژۍ پرمختګ دی چې د ساینس او ټیکنالوژۍ پرمختګ له څېړنو څخه پرته ناممکن دی. د شرعیاتو پوهنځی د استادانو  او مسلکي غړو او حتي د محصلینو د څېړنیزو مهارتونو څخه په ګټې اخیستنې د پوهنځی په داخل کې انفرادي څېړنو او له پوهنځی څخه بحر د تفاهم لیکونو څخه په استفادې له شرکاوو سره د ګډو څېړنیزو پروژو پر مخ وړلو باندې تمرکز کوي.

**ث)** د تمثیلی محکموا ایجادول:

د شرعیاتو پوهنځي د کتابتون، تمثیلي محکمې او حقوقي کلینیکونو مرکزونو ټولو تخنیکي مامورینو ته د هغوی د مسلک اړوند د روزنیزو پروګرامونو دایرول.

**ج)** لنډ مهاله مسلکي روزنیز کورسونو رامنځته کول:

د شرعیاتو پوهنځي او نورو پوهنځیو د محصلینو سربېره د ټولنې ځوان زده کړیالانو د مختلفو مهارتونو لوړونې او سالمې روزنې په موخه په راتلونکو پنځو کلونو کې د شرعیاتو پوهنځی د داسې تقویتي مسلکي روزنیزو پروګرامونو د دائرولو هوډ لري چې په واسیطه یې زده کړیالان وکولای شي چې د یادو پروګرامونو څخه په استفادې د بازار په نسبت د ډیر کم لګښت په بدل کې په خپل فارغ وخت کې د IT، ژبو، څېړنیزو او نورو اړینو پروګرامونو په

برخه کې خپلو مهارتونو ته انکشاف ورکړي ترڅو د فراغت سره سم وکړای شي چې د مارکیټ او بازار د غوښتنو مطابق دندې ترسره او د استخدام کوونکو رضایت تر لاسه کړای شي.

**د پوهنتون په سطحه د بیلابیلو مسلکونو د بورډونو ایجادول**

۱- د ترجمې، کمپوز او ډیزاین بورډ: په دې بورډ کې به په ځانګړې ډول د ژبو ادبیاتو او کمپیوټر ساینس پوهنځیو استادان او په عام ډول سره د هر پوهنځي استادان شتون ولري، چې د کتابونو د ترجمې، ډیزاین، راپور لیکنې او اړونده کارونو د اجرا مسؤلیت به پر غاړه لري، چې پوهنتون ته به د عوایدو منبع برابروي. په دې برخه کې به هم یوه معینه اندازه حق الزحمه استادانو ته ورکول کېږي.

۲- عدلي ،قضایي ،حقوقي او مشاورتي بورډ: په دې بورډ کې به په ځانګړي ډول د حقوقو او شرعیاتو پوهنځیو استادان د اړونده کارونو د اجرا مسؤلیت په غاړه ولري، چې پوهنتون ته به د عوایدو منبع برابروي. په دې برخه کې به هم یوه معینه اندازه حق الزحمه استادانو ته ورکول کېږي.

**د شرعیاتو پوهنځی د ستر اتیژیک اولویت**

| شمیره | دستراتیژۍ اولویت | ستراتیژۍ | د عمل برنامه |
|---|---|---|---|
| ۱ | علمي پروګرامونه | ▪ **د کادري غړو رشد او پراختیا**<br>▪ درسي مواد پراختیا<br>▪ معلوماتي ټکنالوژۍ ته لاسرسی<br>▪ الکترونیکي زده کړې<br>▪ تضمین کیفیت او اعتبار تر لاسه کول | ▪ د سیال کادري اشخاصو هڅولو طرح رامینځته کول<br>▪ د نافذه قوانینو په رڼا کې د شفافې پروسې سرته رسیدو په موخه د نظارت لازم میکانیزم رامینځته کول<br>▪ د ټولنیزو ستونزو حل کې د پوهنځی ونډې اړوند عملي برنامه<br>▪ د( تحصیلي نصاب ) کمیټې په مټ د نصاب له تطبیق څخه نظارت، او په بازار کې د کار دپیداکیدلود طرحې ترتیب .<br>▪ له نوې ټکنالوژي څخه د ګټې اخیستنې لپاره د لازمو سهولتونو رامینځته کول.<br>▪ د بریښنایي زده کړو عاملولو عملي پروګرام<br>▪ د تضمین کیفیت ۱۱ ګونو معیارونو د تکمیل او اکریدټشن په موخه د هر اړخیزه طرحه رامینځته کول؛ او هرې برخې ته د نظارت میکانیزم جوړل |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲ | حکومت داری | ▪ تفاهم لیکونه او تواميتونه<br>▪ مالي مرستو جذب کول<br>▪ مالي، اداري او علمي خپلواکي<br>▪ د فساد پر وړاندې مبارزه<br>▪ د ارزیابۍ او نظارت قوی کول | ▪ له مختلفو اکادومیک او غیر اکادومیک ادارو سره د مرستو د تفاهم لیکونو طرح رامینځته کول.<br>▪ د نورو ادارو سره د همکارۍ په موخه د ځانګړې کميټې رامینځته کول، او د هغوی څخه د مرستې جلب کولو طرحه رامینځته کول<br>▪ د عایداتي سرچینو موندلو عملي پروګرام.<br>▪ له شرکاوو سره ګډې ناستې طرح کول.<br>▪ د حساب ورکونې او په دارو کې د روڼتیا عمل برنامه<br>▪ د مالي عایداتي سرچینو څخه د ښې ګټې اخیستنې طرحې پروګرام<br>▪ د فساد پر وړاندې د مبارزې عملي پروګرام<br>▪ د اداري فساد اړوند د عامه پوهاوي عملي پروګرام<br>▪ د اړونده لوایحو، مقرراتو پلي کول او له هغې څخه د نظارت ترسره کول .<br>▪ د څارنې او ارزونې کميټې رامینځته کولو عملي پروګرام |
| ۳ | خدمات | ▪ د کریډټ سیستم تقویت او تطبیق<br>▪ **محصلینوته د خداماتو زیاتوالی**<br>▪ لوړو زده کړو ته لاسرسی | ▪ دکریډټ سیستم له پلي کیدو څخه د نظارت عملي برنامه.<br>▪ د محصلینو لپاره د لازمو سهولتونو رامینځته کولو عملي برنامه.<br>▪ د شاګرد محوری زده کړو عاملو عملي برنامه.<br>▪ د علمي سفرونو عمل برنامه.<br>▪ له ملي او نړیوالو مناسبتونو د لمانځنې عملي برنامه.<br>▪ معرفي او ښه راغلاست « د نویو معرفی شویو محصلینو لپاره د ښه راغلاست برنامه »<br>▪ د نویو علمي پروګرامونو د ایجاد عملي برنامه. |
| ۴ | زیربنا | ▪ **تدریسي ساختمان**<br>▪ مجهزي کتابخاني او کمپیوټر لب درلودل | ▪ د پوهنځی د معیاری تدریسي تعمیراتو لپاره د مالي وجهو د تدارک عملي برنامه.<br>▪ د مجهزي کتابخاني او کمپیوټر لب د جوړولو اړوند اسنادو او وراندیزونو تعقیب.<br>▪ د نورو زیربنای ي پروژو لپاره د مالي سپانسرشیپ موندلو عملي برنامه. |

## ستراتیژیک مقاصد او د پوهنځی موخې سره له زماني ویش او اړینو اجراآتو

| شمیره | برنامه | هدف | مسول | سرچینې | اجرا وخت | | | | | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | ۱۴۰۳ | ۱۴۰۴ | ۱۴۰۵ | ۱۴۰۶ | ۱۴۰۷ | |
| ۱ | د شپږ برنامه ایجادول | عایداتي منابع او مالي خپلواکي | علمی معاونیت او د پوهنځی ریاست | عادي بودجه | | | | | | |
| ۲ | د تمثیلي محکموبرنامي ایجادل | | مالی اداری معاونیت او د پوهنځی ریاست | انکشافي بودجه | | | | | | |
| ۳ | له اړوندو ملي ادارو سره تفاهم لیک امضاء کول | مرستو جلبول | د پوهنځی ریاست | عادي بودجه | | | | | | |
| ۴ | د مجازاتو او مکافوتو رایجول | د فساد پر وړاندې مبارزه | د پوهنځی ریاست | عادي بودجه | | | | | | |
| ۵ | د اسلامي ثقافت دیپارتمنت ایجادول | کادري تشیکیل زیاتیدل | علمي معاونیت او د پوهنځی ریاست | عادي بودجه | | | | | | |
| ۶ | د موجوده علمی کادرونو او اداری کارکووونکو ظرفبت ته وده او پراختیا ورکول | پراختیا او پرمختګ | علمي معاونیت او د پوهنځی ریاست | انکشافي بودجه او دونران | | | | | | |
| ۷ | د کریدیت سیستم د معیاری تطبیق په موخه علمی کادرنو، اداری کارمندانو | د کریدیت | د پوهنځی ریاست | عادي بودجه | | | | | | |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | او محصلینو ته د زده کړه ایزو کورسونو دایرول | سیستم تقویت او تطبیق | | | | | | | | |
| ۸ | د (OBE-SCL) د زده کړو دودول | | د پوهنځی ریاست | عادي بودجه | | | | | | |
| ۹ | محصلینو ته د علمي سفرونو زمیه برابرول | محصلینو ته د سهولتونو برابرول | د پوهنځی ریاست | انکشافي بودجه | | | | | | |
| ۱۰ | سپورتی آسانتیاوې رامنځته کول | | مالی اداری معاونیت او د پوهنځی ریاست | عادي بودجه | | | | | | |
| ۱۱ | د محصلینو وړاندیزونو او شکایتونه ته رسیدګی | | د پوهنځی ریاست | عادي بودجه | | | | | | |
| ۱۲ | محصلینو ته د ښې زده کړې او مناسب چاپیریال رامنځته کول | | د پوهنځی ریاست | انکشافي بودجه | | | | | | |

## د شرعیات پوهنځي پنځه کلن مالي پلان (۱۴۰۳-۱۴۰۷)

ارقام په میلیون افغانۍ

| شمېره | برنامه | اجرأ وخت | | | | | مجموعه | بودجه | | | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ۱۴۰۳ | ۱۴۰۴ | ۱۴۰۵ | ۱۴۰۶ | ۱۴۰۷ | | عادي | انکشافي | مرستې | |
| | زیربنا برخه | ۲۰ | ۲۸ | ۳۰ | ۳۵ | ۴۰ | ۱۶۳ | | انکشافي | ډونران | |
| ۱ | ۱ باب تدریسي تعمیر | ۱۰ | ۲۰ | ۲۵ | ۳۰ | ۳۰ | ۱۱۵ | | انکشافي | ډونران | |
| ۲ | ۱باب لیلیه تعمیرونه | ۲۰ | ۴۰ | ۴۵ | ۵۰ | ۶۰ | ۲۱۵ | | انکشافي | ډونران | |
| ۳ | اداري تعمیر | ۱۰ | ۲۰ | ۲۵ | ۳۰ | ۳۵ | ۱۲۰ | | انکشافي | ډونران | |
| ۴ | حقوقي کلینک | ۲ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۱۶ | | انکشافي | ډونران | |
| ۵ | کمپیوترلب | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۴ | ۱۴ | | انکشافي | ډونران | |
| ۶ | کتابخانې | ۴ | ۸ | ۱۰ | ۱۲ | ۱۵ | ۴۹ | | انکشافي | ډونران | |
| ۷ | ۱باب تالارد تمثیلي محکمې لپاره | ۲۰ | ۴۰ | ۵۰ | ۵۵ | ۶۰ | ۲۲۵ | | انکشافي | ډونران | |
| ۸ | د شنې ساحې را منځته کول | ۱ | ۱ | ۲ | ۲ | ۲ | ۸ | | انکشافي | ډونران | |
| ۹ | کفټریا او د نقلیه واسایطو پارکېنګ | ۱ | ۲ | ۳ | ۳ | ۴ | ۱۳ | | انکشافي | ډونران | |
| ۱۰ | داستادانو ظرفیت لوړاوی | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۱۵ | | انکشافي | ډونران | |
| ۱۱ | د تدریس او څېړنیز بهیر هڅونه | ۰،۵ | ۰،۵ | ۱ | ۱ | ۱ | ۴ | | انکشافي | ډونران | |
| ۱۲ | د عربي ژبې څخه پښتو ژبې ته د کتابونو ژباړنه | ۰،۵ | ۰،۵ | ۱ | ۱ | ۱ | ۴ | | انکشافي | ډونران | |
| | کیفیت تضمین او اعتبار اخیستنې برخه | ۱ | ۲ | ۲ | ۲ | ۲ | ۹ | | انکشافي | ډونران | |
| ۱ | لوړو زده کړو ته دکادري پرسونل استول | ۱ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۱۱ | | انکشافي | ډونران | |
| ۲ | ظرفیت لوړونه | ۰،۵ | ۰،۵ | ۱ | ۲ | ۲ | ۶ | عادي | | | |
| ۳ | د نویو څانګو او پوهنځیو تجهیز | ۰،۵ | ۰،۵ | ۱ | ۲ | ۲ | ۶ | عادي | | | |
| ۴ | د کریدت سیستم پلې کول | ۱ | ۱ | ۲ | ۲ | ۲ | ۸ | عادي | | | |
| ۵ | د ټولګیو تجهیز | ۱ | ۱ | ۲ | ۲ | ۲ | ۸ | عادي | | | |
| ۶ | د فساد پروړاندې مبارزه | ۱ | ۱ | ۲ | ۲ | ۲ | ۸ | عادي | | | |
| ۷ | علمي کنفرانسونو تدویراوله ملي او نړیوال مناسبتونو څخه نمانځنه | ۱ | ۱ | ۲ | ۲ | ۲ | ۸ | عادي | | | |
| ۸ | علمي نشرات | ۱ | ۱ | ۱ | ۱ | ۱ | ۵ | عادي | | | |
| | مدیریت او خدماتو برخه | ۱ | ۱ | ۱ | ۱ | ۱ | ۵ | | | | |
| ۱ | اداري پرسونل ظرفیت لوړونه | ۱ | ۱ | ۲ | ۲ | ۲ | ۸ | عادي | | | |
| ۲ | سیستم جوړونه او د فساد پر وړاندې مبارزه | ۱ | ۱ | ۲ | ۲ | ۲ | ۸ | عادي | | | |

## پنځم فصل

### د لنډ مهال اهدافو تاکل

د شرعیاتو پوهنځی خپل لنډ مهاله اهداف د لرلید او ماموریت پربنسټ همدارنګه د قوتونو اوضعفونو په اساس په لاندې ډول ټاکي.

۱.د تدریسي موادو پراختیا اود نویو تدریسي میتودونو د تطبیق ډګرته وده ورکول، د شرعیاتو پوهنځی په پام کې لري چې د درسي کتابونو د تالیف اوتدریس موادو د نوي لغتونو اوټولنې اوکاري ساحو له غوښتنو سره سم د نوي کولو بهیرته وده ورکړي.

۲- د تحقیقاتو پراختیا: د شرعیاتو پوهنځی د څېړنې د څانګې اوڅېړنیزو فعالیتونو د اسانتیا اوپراختیا اراده لري.

۳- د کیفیت تضمین فعالیتونو پراختیا: د شرعیاتو پوهنځی د دی څانګې فعالیتونه پراخوي اواکاډمیک اعتبار ترلاسه کولو لپاره په دې برخه کې بیلابیل پروګرامونه پلانوي.

### داوږد مهاله اهدافو ټاکل

۱- د استخدام د کچې لوړول: د شرعیاتو پوهنځی د اسلامي علومو د خپرولو په برخه کې د خپل رسالت اومسؤلیت سرته رسولوپه موخه د لازیاتو اسانتیاوو په برابرولو، د معیاري تدریس بهیر د تطبیق او اعلاناتو په ورکولو سره د محصلینو د استخدام د کچې د لوړولو اراده لري.

۲- د کیفیت ساتل او د امکان ترحده یې ښه کول: د شرعیاتو پوهنځی د دریمې مرحلې د اکاډمیک معیارونو سره مطابقت ته ژمن دی اود ساتلو لپاره یې پلان لري.

۳- د نصاب پراختیا: نصاب د یوې علمي ښوونیزې ادارې د فعالیتونو یو له مهمو عناصرو څخه دی اوټاکل شوې ده، چې په دې برخه کې پراختیایې فعالیتونه ترسره شي، چې ترټولو مهم یې د درسي کتابونو واحد تالیف او لیکچر نوټونه په درسي کتابونو تبادله ده.

۴- د پوهنځیو په کچه د نویوتحصلي میتودونو بنسټیزکول: په وروستیو کلنوکې د شرعیاتو پوهنځی هڅه کوي چې د تدریس نوي میتودونه پلي کړې، اوپه راتلونکوکلنو کې د دې میتودونو بنسټیزکولو ته ژمن دي.

۵- د څېړنې د ډګر پراختیا: څېړنه د یوي علمي ادارې د فعالیتونو یوله مهمو عناصرو څخه ده، د شرعیاتو پوهنځی په دې باوري دی اوپه دې برخه کې د ظرفیت لوړولو اوپراختیا ډېر پروګرمونه په پام کې نیسي.

۶- الکترونیکي زده کړو د ډګر پراختیا: په معاصره نړۍ کې په تدریس اوڅېړنه کې له تیکنالوژۍ څخه کټه اخیستنه یونه جبران کیدونکې اړتیا ده او په دې برخه کې پلان دا ده، چې د الکترونکي تدریسي موادو په جوړولو اوپه دې برخه کې پرمختګونه رامنځته شي.

۷- د رهبرۍ او حکومتدارۍ وده: د مقرراتو پلې کول، د څانګو دوامداره څارنه او راپور ورکول، مسؤلینو ته د راپور ورکولو علمي پروګرام اود اداري رسمياتو او کاغذي کارونو کمول باید په دې برخه کې د پوهنځی په پروګرام کې شامل شي.

۸- د هيواد په علمي ټولنه کې د پوهنځيو ځای په ځای کيدل د ټولنې په پرمختګ کې اغيزمنتوب له پلوه په لوړ مقام کې دي.

۹- علمي اوفرهنګي اړيکو اونورو اړوند کورنيو او بهرنيواسلامي بنسټونو سره د تفاهم د خپلواکې تفاهمنامې په لاسليک کولو سره پياوړتيا اوپراختيا.

۱۰- د کارۍ چاپيريال پراختيا: د اجرئيوي مديريت د دفترونو زياتوالی د کيفيت تضمين اجرئيوي څانګه اود پوهنځی د غونډو خونو تخصيص.

۱۱- بشري منابع اوزيربناوې: د شرعياتو پوهنځی په محلي او ملي کچه په خورا اغيزمنو اومعياري پوهنځيو بدلولو او د مناسب اوغوره اکاډميک چاپيريال رامنځته کولو لپاره د مهمو بشري اوغير بشري سرچينو زياتوالی اوکارول.

۱۲- د کارمندانو لپاره د روزنې فرصتونه او پيا وړتيا پروګرامونه چمتوکول.

## د ستر اتیژي ارزونه او د ستر اتیژیک پلان د تطبیق پایلې

### د ستر اتیژي ارزونه

د شرعیاتو پوهنځی د ستراتیژیک پلان د پلان شویو فعالیتونو د تطبیق د ارزونې او څارنې په موخه د ستراتیژیک پلان کمیټه جوړه کړه، چې دغه کمیټه د پوهنځي له اوو تنو علمي کارکوونکو څخه جوړه ده، چې د فعالیتونو د تطبیق او پرمختګ څارنه او ارزونه کوي. همدارنګه د پوهنځي امکانات په ځانګړي توګه هغه چې په ستراتیژیک پلان کې شامل دي، هرکال د دې کمیټې له خوا ازول کیږې، او د پوهنځی په پلانونو کې یې پیاوړتیاوې اونیمګړتیاوې په پام کې نیول کیږي.

### د ستر اتیژیک پلان د پلي کولو پایلې

د دې پلان په ښه شکل د تطبیق له مخې به په پوهنځی کې شته نیمګرتیاوې له منځه ولاړې شې، او یو مناسب اکاډمیک چاپیریال به رامنځته شې، چې موږ یې ځینې متوقع پایلې په لاندې ډول بیانوو.

۱ – د زده کوونکو لپاره د زده کړې مناسب فرصتونه به زیات شي.

۲ – د شرعیاتو پوهنځی به د خپل ماموریت له مخې ټولنې ته متخصص اوروزل شوي کار کوونکي وړاندې کوي.

۳ – د ټولنې اړتیاوو او د کارې ساحو اړتیاوته مثبت ځواب.

۴ – د پوهنځي په مختلفو ابعادو کې د پام وړ پرمختګ.

## دپوهنځی د ستر اتیژیک پلان تأئید اوتصویب

### د ستر اتیژیک پلان د کمیټې پریکړه

د شرعیاتو پوهنځي ستراتیژیک پلان د کمیټې د غړو لخوا په (۳) او ۱۴۰۳/۰۶/۲۰ نیټه غونډه کې تائید شو

### د پوهنځی د علمي شورای پریکړه

د شرعیاتو پوهنځی ستراتیژیک پلان د پوهنځی علمي شورا په (۶) ګڼه او ۲۶/ ۶ /۱۴۰۳ هـ ش نیټه غونډه کې تائید شو

**شیخ مولوي عبدالباري رحماني**

**د شرعیاتو پوهنځي رئیس**